د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه

# ځانګړی رپوټ

# د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردولو او ویشلو په بهیر کې د اداري فساد پر وړاندې د زیانمننو ارزونه

کابل

د ۱۳۹۵ کال وږي میاشت

**د محتوياتو لړليک**


1. لنډيز ........ 4
2. سريزه ........ 5
3. ميتودولوژی ........ 6
4. د بهير حقوقی چوکاټ ........ 7

4.1. اساسی قانون ........ 7

4.2. د دولت د تصديو قانون ........ 8

4.3. د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ اساسنامه ........ 9

4.4. د خصوصی پانګې اچونې قانون ........ 9

4.5. د ګمرکونو قانون ........ 10

4.6. د افغانستان د ملي ستندرد قانون ........ 11

4.7. د نفتو او اوبلنو ګازو پاليسي ........ 12

4.8. د وزيرانو شورا مصوٻبې او لنډمهاله پريکړې ........ 12

5. د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو د بهير رهبري او مديريت ........ 13

5.1. ښکيلې ادارې او په بهير کې د هغوۍ رول ........ 13

5.2. د دندو ورته والی ........ 15

5.3. د کار له حجم سره د تشکيلاتي جوړښت نه همغږي ........ 15

5.4. د مسلکی بشری سرچينو کمښت ........ 16

5.5. د کارکونکو ټيټه وړتيا ........ 17

5.6. د تجهيزاتو او لازمو کاري وسايلو نشتوالی ........ 17

5.7. د سيمه ايزو ادارو د کارکوونکو د صلاحيتونو او مسووليتونو ترمنځ د انډول نشتوالی ........ 18

6. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تورید د بهير حقيقي اجراات ........ 19

6.1. د جوازونو اخيستل ........ 19

6.2. د نفتي توکو او اوبلن ګازو قرارداد ........ 20

6.3. ليږد را ليږد/ ټرانسپورټ ........ 21

6.4. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ د رياست له لورې، سوداګرو ته د بندري خدمتونو وړاندې کول..... 21

6.5. د کيفيت ازمايښت ........ 24

6.6. د ګمرکي محصول اخيستل ........ 26

6.6.1. د هيواد له پولو څخه د نفتي توکو قاچاق ........ 27

6.6.2. هيواد ته د محصول څخه معافو نفتي توکو واردول ........ 29

6.6.2.1. د اداری فساد پر وړاندې د محصول څخه د معافو نفتي توکو د واردولو د بهير زيانمننې 30

6.6.3. د نفتي توکو د واردولو په بهیر کې د مافیا رول ........................................................ 32
6.7. د فواید عامی وزارت له تلو تیریدل ............................................................................ 33
6.8. د هیواد ښارونو ته د رسیدو په موخه د لویو لارو تیریدل .................................................... 33
6.9. د ښاروالیو د تهجایی محصول ................................................................................... 34
6.10. د تیلو په پمپونو باندې د تیلو ویش ............................................................................. 34
6.11. قیمت اینښودنه او د بازار څارنه .................................................................................. 35
7. نتیجه اخستنه او سپارښتنې ........................................................................................ 36
7.1. نتیجه اخستنه ....................................................................................................... 36
7.2. سپارښتنې ........................................................................................................... 36
8. سرچینې ............................................................................................................... 43
9. ضمیمې ................................................................................................................ 44
9.1. لومړی مل: د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردولو د بهیر پړاوونه ............................................ 44
9.2. دوهم مل: هیواد ته د محصول څخه معاف تیلو د واردونکو شرکتونو نومونه ............................. 45

## 1. لنډیز

د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه، په داسې حال کې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو(تورید) د بهیر زیانمننې ارزوې چې د یوې لسیزې په بهیر کې د افغانستان خلک د بې کیفیته نفتي توکو او اوبلن ګاز له شتون څخه چې له یوې خوا د چاپیریال د ککړتیا او له بلې خوا د موټرو د ماشینونو د تخریب او په تولیزه توګه د هیواد د اقتصادي زیان لامل ګرځي، رنځیږي.

د ارزونې مؤظف پلاوی، په یادې برخې کې د کره مالوماتو د ترلاسه کولو په موخه، د یاد بهیر د اړوند حقوقي او اداري سندونو د مطالعې، مرکو، ګروپي او مشورتي ناستو سربیره د آقینې، حیرتان، تورغندی، اسلام کلا د ګمرکاتو له چارواکو سره مرکې او همدارنګه د بلخ، هرات، کابل له ولایتي ګمرکونو څخه لیدنې ترسره او په بهیر کې د ښکیلو بیلابیلو څانګو د کارکونکو اجراات و ارزول.

موندنې ښيي چې د بازار د اقتصاد سره د نوموړي بهیر د موجوده قوانینو او کړنلارو نه اړخ لګول، په بهیر د ۱۵ بیلابیلو حکومتي ادارو ښکیلتیا او د یوه واحد مشرتابه نشتوالی، ، د دولتي تصدیو او اساسي قانون د ټکر د له منځه وړلو په تړاو د حکومت نا غیږي او بې تفاوتي، په اړوند ادارو کې د اړینو وسایلو کمښت، د چارواکو لخوا د قانون ماتونې، په بهیر کې د سیمه ایزو زورواکو نفوذ او ګواښونه، د بشري سرچینو د وړتیا ټیټوالی، ، په ښکیلو ادارو کې د کورنی پلټنې او په کارکونکو د کنټرول د میکانیزمونو کمزورتیا، هغه زیانمننې دي چې په نوموړي بهیر کې یې اداري فساد، د بې کیفیته نفتي توکو واردولو، قاچاق، درغلی او نورو سرغړونو ته لاره هواره کړې او او په هیواد کې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د مافیایي کړیو د پیاوړتیا لامل ګرځیدلي دي.

ارزونه ښيي چې د تیرو څوارلسو کلونو په لړ کې د یادو ادارو په ځانګړې توګه د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تصدی د عمومي ریاست د سمون او ښه والي په موخه اغیزناکه او کوټلې ګامونه نه دي پورته شوي. مرکه کونکي په دې اند دي چې د یادې تصدی د فعالولو او یا هم بندولو په هکله د حکومت بې تفاوتي او نه پاملرنه د یادې انتفاعي اداري د پرمختګ او سمون په وړاندې یو ستر لامل دی. د یادې اداري د نوي مشر له خولې، د یوې انتفاعي اداري په توګه نوموړې اداره په تیرې یوې لسیزې کې په دې نه ده توانیدلې چې خپل اداري لګښتونه د خپلو عایداتي سرچینو څخه ترلاسه کړي. اوس مهال یاده اداره څه ناڅه ۴ میلیارده افغانۍ پوره وړې ده. د هغو ارقامو پر بنسټ چې د نوموړې تصدی لخوا د ارزنې د پلاوي په واک کې ورکول شوي، نوموړې تصدی باید په ۱۳۹۴ لمریز کال کې 21.3 ملیونه امریکایي ډالره، په پوله کې د خدمتونو د وړاندې کولو له درکه راټول کړي وای خو نوموړې تصدی یوازې 3.368 ملیونه امرکایي ډالر راټول کړیدي او 17.93 ملیونه ډالره لوټل شویدي. اسناد او مدارک څرګندوي چې د یادې اداري لوی شمیر کارکونکي غیرمسلکي کسان دي او د اړیکو د لارې په دندو ګمارل شویدي د بیلګې په توګه د یوې کورنی ۱۰ غړي پدې اداره کې په کار بوخت دي. د یادې اداري نوی مشر چې د ۱۳۹۴ کال په وروستیو کې نوموړې اداري ته معرفي شوی، له یو لړ لومړنیو اصلاحاتو وروسته په دې توانیدلی دی چې د یادې اداري عواید له بندرې خدماتو له عرضه څخه، د ده په وینا ٪300-1000 پورې زیات کړي. دا په تیرو وختونو کې په یاده اداره کې د پراخ فساد د شتون څرګندونه کوي چې د یادې اداري په ټولو برخو کې یې ژورې ریښې ځغلولي دي.

ارزونه ښيي چې یادې زیانمننې د شفایت او روڼوالي د نشتون، د ځانګړو کړیو پورې تړلو کسانو سلیقه ګمارنې، د مالیاتو ورکولو څخه تېښتنې ، قاچاق او پراخ اداري فساد له امله د هیواد د ګمرکونو د عوایدو د یوې سترې برخې د ضایع کیدو لامل شوي دي. هغه ارقام چې د ارزونې پلاوي د ګمرکاتو له معینیت څخه تر لاسه کړي دا ښيي چې په ۱۳۹۴ کال کې هیواد ته 0.758192 ملیونه ټنه تیل را وارد شویدي، پداسې حال کې چې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی د ریاست پواسطه ثبت شوي ارقام دا ښيي چې په نوموړي کال کې 1.495291 ملیونه ټنه تیل را وارد شویدي، دا توپیر دا په ډاګه کوي چې په ۱۳۹۴ کال کې د ګمرکي محصول له درکه 70.76 ملیونه امریکایي ډالره اختلاس شویدی.

په بهیر کې یو له ښکیلو لوړ پوړو چارواکو څخه چې د زابل-ایران ګمرک ته چې د فراه ولایت د میل ۷۸ ګمرک ته څیرمه پروت دی د یو پلاوي په ترڅ کې سفر کړی و, وایي چې د افغانستان د ګمرکاتو د ثبت څخه څه ناڅه ۸۴۰۰۰ ټنه اضافي تیل په یاد ګمرک کې ثبت شوي وو. دا ښيي چې ۸۴۰۰۰ ټنه تیل پرته له اسنادو او ګمرکي پړاونو د بشپړولو څخه

له يادې پولې افغانستان ته داخل شوي دي.  سربيره پر دې، د پولې له هاخوا ګمرک له چارواکو څخه يې د هغه بې کيفيته تيلو د مقدار په هکله چې د نورم او ستندرد  ملي اداري لخوا رد شوي وو پوښتنه کړې ده، هغوي د دې پوښتنې په ځواب کې وايې چې ان يو ليتر بې کيفيته تيل چې د افغانستان له لوري رد شوي وي ايران ته بيرته نه دي راستول شوي.

بله مهمه موضوع په بازار کې د سوداګريزو او محصول څخه معافو تيلو تبادله ده، ځرنګه چې د محصول څخه معاف تيل پرته لدې چې کيفيت يې د لابراتوار پواسطه و ارزول شي، هيواد ته راوړل کيږي او کيفيت يې ډاډمن نه وي نوځکه د سوداګريزو تيلو سره تبادلې يې خلک اندېښمن کړيدي. سربيره پر دې چې د ارزونې پلاوي ډيره هڅه وکړه تر څو په ۱۳۹۴ کال کې د محصول څخه د معافو تيلو د کچې په اړه د ګمرکونو د معينيت څخه مالومات تر لاسه کړي خو بريالی نشو، ولې هغه مالومات چې پدې تړاو د نفتي توکو او اوبلنو ګازو رياست را استولي دا ښيي چې په ۱۳۹۴ کال کې هيواد ته 0.378989 مليونه ټنه تيل را وارد شويدي، چې ګمرکي محصول يې 36.38 مليونه امريکايي ډالرو سره مساوي دی.

په ټوليزه توګه ارزونه ښيي چې د اداري فساد په وړاندې  ددې بهير زيانمنني ډيرې جدی او پراخې دي او ددې ټولو ترشا په کور دننه او بهر د نفتي توکو ستر مافيايي لاسونه کار کوي چې  ان حکومت کې يې هم نفوذ او رخنه کړې ده.

د ماليې وزارت د محصول څخه د معافو نفتي توکو څخه د ناوړه ګټې اخستنې او بازار ته د عرضه کولو موضوع په جدي توګه څيرلې او د دې څيرنې پر بنسټ يې يوه طرحه چمتو او نړيوالو ځواکونو ته استولې ده. نوموړې طرحه دا وړانديز کوي چې نړيوال ځواکونه بايد د توکو د واردولو پر مهال د ګمرک محصول تحويل او وروسته يې د ماليې وزارت څخه تر لاسه کړي. د څارنې او ارزونې کميټې سره د يوې غونډې په ترڅ کې نړيوالو ځواکونو د نوموړې طرحې څخه تود هرکلی وکړ خو دا چې ولې دا طرحه تر اوسه پلې شوې نده، لامل يې مالوم ندی.

ارزونه ښيي چې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تصدی رياست، د حقوقي اسنادو، تشکيلاتي جوړښت، بشري سرچينو، کاري تجهيزات او وسايلو، اداري سيستمونو، او د مسوليتونو او واکونو په ګډون په ټولو برخو کې ډيرو پراخو اصلاحاتو او سمون ته اړتيا لري. همدا راز ، د نورم او ستندرد ملي اداره لا تر اوسه په ځان بسيا نه ده او په دې نه ده توانيدلې چې اړين ستندردونه معرفي کړي،  او سيستماتيک اصلاحاتو، تجهيزاتو، د وړتيا ودې او  نورو موارد‌و ته اړتيا لري. د هيواد ګمرکونه د سکنرونو د نشتوالي، د بشري سرچينود کموالي، د ټيټ ظرفيت او ژمنې، سياسي او امنيتي ملاتړ نشتون او د کارکونکو د ژوند د امنيت نه خونديتوب څخه رنځيږي، چې له کبله يې هيواد هر کال په سلګونو ميليونه افغانی له لاسه ورکوي.

د ريوټ سپارښتنو د قوانينو او کړنلارو په طرحې، اصلاح،  او سم پلي کولو  او د اداري جوړښتونو پر بنسټيزولو،  د ښکيلو اداراتو ترمنځ د همغږۍ او رهبرۍ ميکانيزه کولو، د کارکونکو د فعاليتونو کنترول او څارنه او د هغو د ګمارنې ځرنګوالي، په نوو تجهيزاتو او وسايلو د ښکيلو ادارو د  بندري ځانګو سمبالول او فعالول، او د بهير د اداري سيستمونو پياوړي او نوي کولو  باندې ټينګار کړيدی.

## 2. سريزه

د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کميټه، په داسې حال کې  د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو د بهير زيانمنني ارزوي چې د يوې لسيزې په بهير کې د افغانستان خلک د بې کيفيته نفتي موادو او اوبلن ګاز له شتون څخه چې له يوې خوا د چاپيريال د ککړتيا او له بلې خوا د موټرو د ماشينونو د تخريب او په ټوليزه توګه د هيواد د اقتصادي زيان لامل ګرځيدلی دی، رنځيږي. د نفتي توکو او اوبلن ګاز د چارو مديريت او تنظيم ورځ تر بلې پيچلی کيږي او داسې ويل کيږي چې افغانستان د بې کيفيته تيلو په بازار بدل شوی دی.  د نړيوالو پوځونو، کورنيو چارو او دفاع وزارت د تيلو د معافيت څخه ناوړه ګټه اخيستنې هم ځينې پوښتنې راولاړې کړې دي، او د امنيتي ارګانونو د نفتي توکو د قراردادونو بهير شفافيت او روڼوالی لا تر اوسه د قناعت وړ نه دی.

که څه هم چې افغانستان د نفت او ګازو له پلوه يو بډايه هيواد دی، خو ياد هيواد تر اوسه په دې نه دی توانيدلی چې خپل نفت او ګاز استخراج او ګټه ترې واخلي. دا کار ددې لامل شوی چې خصوصي سکتور هر کال له بيلابيلو هيوادونو په ځانګړې توګه له شمالي او ختيځو ګاونډيو هيوادونو څخه په زرګونه ټُنه نفتي توکي هيواد ته راوارد کړي.

وارد شویو نفتي توکو ته د افغانستان د خلکو اړتیا او د پوځي ځواکونو لخوا د نفتي توکو بې کچې مصرف او همدارنګه په هیواد کې رواني جګړې د نفتي موادو عرضه کونکو پام افغانستان ته اړولی دی. دا په داسې حال کې ده چې افغانستان سربېره پر دې چې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د کیفیت د کنټرول لپاره د اړینو تجهیزاتو او وسایلو له نه شتونه څخه رنځیږي، د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تولید د چارو تنظیم کونکو اداراتو مدیریتي کمزورتیا په یاد سکتور کې د پراخ فساد لپاره موکه برابره کړې ده. سر بیره پر دې چې د افغانستان خلک هر کال د نفتو او ګازو په بیه کې نوساناتو شاهدان دي او ددې بار دروند پېټی یې په اوږو دی، د با کیفیته موادو له نه شتون او په دې برخه کې د ښکیلو ارګانونو د کم کارۍ نه هم رنځیږي. همدا اوس په ټوله نړۍ کې د تیلو په بیه کې د پام وړ کمښت راغلی دی خو په افغانستان کې د نفتو او ګازو په بیه یې د پام وړ اغیزه نه لیدل کیږي.

د نفتي توکو او اوبلن ګاز سوداګر او فعالان، اداري فساد د نفتي موادو او اوبلن ګاز د بیې د لوړوالي یو له اصلي لاملونو څخه ګڼي. د اداري فساد په وړاندې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو د بهیر د زیانمننو د ارزونې تمرکز به په دې وي چې په یاد بهیر کې د فساد د فرصتونه تر شننې او ارزونې لاندې ونیسي، د اداري فساد په وړاندې د نوموړي بهیر زیانمننې په ګوته کړي او همدارنګه د سپارښتونو په وړاندې کولو سره مسئولې ادارې دې ته وهڅوي چې په یاد بهیر کې د فساد د مخنیوي لپاره کوټلي ګامونه واخلي.

د نفتي توکو او اوبلن ګاز مسئله په هیواد کې د نظامي، سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او تر ټولو مهمه د چاپېریال لپاره د خورا اهمیت څخه برخمنه ده. نفتي توکي او اوبلن ګاز نه یوازې د هیواد خلکو د لومړنیو او حیاتي اړتیاوو څخه ګڼل کیږي بلکې د دولت لپاره هم خورا ارزښت لري. د چاپېریال ساتنه، د امن او سوکالۍ په شتون کې د هیواد د اقتصادي نظام پرمختګ یوازې او یوازې د انرژۍ د سالم او سم مدیریت په ځانګړې توګه د نفتي توکو د واردولو د بهیر د سمون له لیارې ترلاسه کیدای شي. د یادې موضوع اهمیت او ارزښت او په دې وروستیو کې د نفتي موادو د کیفیت، قاچاق، ګمرکي معافیت او نور اړوند مسایلو په هکله د افغانستان د خلکو شکایتونه د اداري فساد په وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې پام ځانته واړاو او ددې بهیر د زیانمننو ارزونې ته یې د خپلو لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکړ.

## 3. میتودولوژي

د اداري فساد پر وړاندې د زیانمننو ارزونه(VCA) د فساد د بیلابیلو دود شویو ډولونو، سرچینو او پایلو د تشخیص او پیژندنې او همدارنګه د فساد پر وړاندې د ادارې/ بهیر د زیانمننو د کچې د اټکل یوه وسیله ده. د زیانمننو د ارزونې(VCA) اصلي موخه د ادارې/بهیر د کاري پروسې ښه والي او سمون دی. نو ځکه د ارزونې(VCA) څخه ترلاسه شوې پایلې نشي کولای د بهیر/ ادارې ښیګڼې او د ستاینې وړ فعالیتونه تر خپل سیوري لاندې راولي.

د اداري فساد پر وړاندې د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو د بهیر د زیانمننو ارزونه د رسمي، حقوقي، اداري اسنادو، په افغانستان کې د نفتي توکو او اوبلن ګاز په هکله خپاره شویو رسنیزو او څیړنیزو رپوټونو د پراخې او هر اړخیزې مطالعې او د بهیر په مدیریت کې د ښکیلو دولتي ادارو د لومړۍ او دوهمې درجې چارواکو په ګډون د کلیدي ځواب ویونکو سره د لومړیو مرکو څخه وروسته، ترسره شوې ده.

په بهیر کې د ښکیلو اداراتو او کاري شریکانو تشخیص، د اړوندو حقوقي او اداري اسنادو لکه د بهیر د ریښتینو اجرااتو نمونه ای دوسیو راټولول او مطالعه کول، د بهیر د پړاونو نقشه، په مرکو کې د پام وړ ګروپونو ویشل په ځانګړو کټګوریو، د پام وړ ګروپونو او کټګوریو پر بنسټ د ځانګړو پوښتنلیکونو جوړول، د ارزونې په مفصلې طرحې کې شامل دي.

په یادې ارزونې کې د اړوندو ادارو د مشرتابه( وزیر، معین، رییس، د خپلواکې اداري مرستیال، عمومي رییس)، د واردولو په بهیر کې د ښکیلو منځنۍ کچې مدیران( آمرین، عمومي مدیران، په ولایاتو او بندرونو کې سیمه ایز استازي) د اړوندو ادارو د خدمتونو د وړاندې کولو د لومړۍ کرښې کارکونکي( مدیران او مسلکي کارکونکي)، د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو شرکتونه، د نفتي توکو د تصفیه خونو مسولینو په ګډون له څه ناڅه120 تنو سره مرکه شوې ده. سربیره

پر دې د ارزونې پلاوی د فوکس ګروپونو د ترسره کولو سره سره د بهیر په ټولو پړاوونو کې د صفري نقطې څخه د لیدنې او په کابل ښار کې د نفتو او اوبلن ګاز د ویشلو په ګډون، خپل نیغ په نیغه کتنې منعکسې او لیکلې دي.

د مطلوبو، کره او د اعتبار وړ پایلو د ترلاسه کولو په موخه د ارزونې پلاوي د مالوماتو سرچینې او د راټولولو تګلارې پراخه کړې دي او هڅه یې کړې ده چې په بهیر کې د مالوماتو له بیلابیلو سرچینو څخه ګټه واخلي.

## 4. د بهیر حقوقي چوکاټ( جوړښت)

د قوانینو، مقررو، لوایحو، کړنلارو، پالیسیو، فرمانونو او مصوبو په ګډون د نفتي توکو او اوبلن ګاز د واردولو په بهیر کې بې شمیره تقنیني اسناد شامل دي. د ارزونې پلاوي هڅه کړې ده چې یاد بهیر ته اړوند ټول تقنیني اسناد مطالعه کړي او د هغو زیانمنې روښانه کړي. د یادې ارزونې د محدویت له کبله ډیرو جزئیاتو ته داخل شوی نه دي خو د بهیر د حقوقي جوړښت ځینې زیانمنې یې په ګوته کړې دي. د نفتي توکو او اوبلن ګاز واردولو بهیر ته اړوند نافذ اسناد چې په دې رپوټ کې څېړل شوي دي په لاندې ډول دي:

أ. د افغانستان اساسي قانون۱۳۸۲
ب. د دولتي تصدیو قانون-۱۳۷۰
ج. د نفتي توکو او اوبلن ګاز دتصدی اساسنامه ۱۳۶۶ د اسلامي امارت تعدیل سره
د. په افغانستان کې د خصوصي پانګې اچونې قانون۱۳۸۴
ه. د ګمرکاتو قانون۱۳۸۴
و. د افغانستان د ملي استندرد قانون۱۳۹۲
ز. د نفتو او ګازو قانون۱۳۸۷
ح. د ۱۳۸۶ کال د نفتي توکو او اوبلن ګاز ۳ مه شمیره پالیسي
ط. د وزیرانو د شورا د ۱۳۹۲ کال ۴۵ ګڼه مصوبه

## 4.1 اساسي قانون ۱۳۸۲

د افغانستان اساسي قانون په لسمه ماده کې داسې لیکلي دي: " دولت، خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پر بنسټ د قانون له حکمونو سره سم هڅوي، ملاتړ یې کوي او مصؤنیت یې تضمینوي". ددې ترڅنګ په ۱۳ ماده کې داسې لیکل شوي دي: " دولت د صنایعو د پراختیا، د تولید د ودې او د خلکو د ژوند دسطحې د لوړتیا او د کسبګرو د فعالیتونو د ملاتړ لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي".

د نفتي موادو او اوبلن ګازو د سوداګرو او پانګه اچونکو د ادعا پر بنسټ د افغانستان د اساسي قانون لسمه ماده په سمه توګه نه ده عملي شوې. د اساسي قانون لسمې مادې د افغانستان اقتصادي نظام د "بازار اقتصاد" ټاکلی، خو حکومت لا تر اوسه، د نفتي موادو او اوبلن ګازو د واردونکو شرکتونو د هڅولو لپاره د بازار اقتصاد اسانتیاوې ندي برابرې کړې. دوی د قانون په پلې کولو کې د لوړو پوړو چارواکو ناغیري او له ټولو مهم دا چې د نفتي موادو او اوبلن ګازو په سوداګرۍ کې د لوړ پوړو دولتي چارواکو او سیاسیونو لاس لرل د اساسي قانون ددغې مادې د دوهم بند د نه پلي کیدو اصلي لامل ګڼي.

د نفتي موادو په سکتور کې پانګه اچونکي ( په ځانګړي توګه هغه کسان چې د نفتي توکو چاڼ ځایونه یې جوړ کړي) په دې باور دي چې دولت نه یوازې په دې برخه کې د خصوصي سکتور د ودې لاره نه ده برابره کړې، بلکې د نفتي موادو په سوداګرۍ کې د لوړ پوړو دولتي چارواکو لاس لرل په دې برخه کې ستر خنډونه جوړ کړي ترڅو د سیالۍ فرصت محدود او د نفتي موادو او اوبلن ګازو تجارت انحصاري کړي. دوی د ۱۳۹۲ کال د کب ۵ نیټې د وزیرانو شورا ۴۵ شمیرې مصوبه چې افغانستان ته د اومه تیلو واردول یې بند کړي د افغانستان د اساسي قانون د ۱۰ او ۱۳ مادو روښانه نقضول بولي او د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردولو په بهیر کې د ناسالم رقابت اصلي لامل د نفتي توکو د بازار په سم

مدیریت کې د حکومت پاتې راتلل ګڼي. د دوی په باور د نفتي توکو په برخه کې د دولت ناکاره پالیسۍ ددې لامل شوي چې ددغو چاڼ ځایونو په جوړولو کې په سلګونو میلیونه ډالره پانګه اچونه راکده، ددغو چاڼ ځایونو په سلګونو کارکوونکي بیکاره او د نفتي توکو د لوړې بیې له امله په میلیونونو ډالره زیان د افغانستان خلکو ته ورسیږي. یو شمیر سوداګر پدې باور دي چې د چاڼ ځایونو مالکینو د چاڼ ځایونو څخه ناوړه ګټه پورته کوله او بې کیفیته نفتي توکي به یې واردول او بیا به یې د A-92 تیلو سره یو ځای کول او بازار ته به یې عرضه کول. حکومت باید د وزیرانو شورا د ۴۵ ګڼې مصوبې سره سم یو تخنیکي پلاوی ګمارلي او د نوموړو چاڼ ځایونو تخنیکي وړتیا یې ارزولې وی، تر څو د چاڼ ځایونو د په ټپه دریدو څخه مخنیوی شوی وی، خو د مصوبې د تصویب څخه د درې کالو تیریدو څخه وروسته، حکومت لا تر اوسه دا کار ندی کړی.

### 4.1.1 زیانمننه

د نفتي توکو د او اوبلنو ګازو د چاڼ ځایونو د جوړولو په اړه د یوې هر اړخیزې مقررې نشتوالي، نه یوازې د قانون خلاف مصؤبو د تصویب موکه برابره کړیده بلکه د د دې لامل ګرځیدلي چې شته ۸ چاڼ ځایونه په ټپه ودریږي.

#### 4.1.1.1 سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د چاڼ ځایونو د جوړولو او موجوده چاڼ ځایونو د فعالولو لپاره یوه هر اړخیزه مقرره چمتو او د تصویب په موخه یې مربوطه ارګانونو ته لیږي.

**ضرب الاجل:** د ۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰ نیټه

## 4.2. د دولت د تصدیو قانون ۱۳۷۰ کال

د دولت د تصدیو قانون چې د ۱۳۷۰ کال د غوایي د میاشتي په ۳ نیټه د ۷۴۳ شمیرې رسمي جریده کې خپور شوی، د افغانستان د خلق دیموکراتیک حکومت له لوري طرحه او توشیح شوی. دغه قانون د پلان شوي اقتصاد د ارزښتونو پر بنسټ وضع شوی دی. د هیواد په اوسني اساسي قانون کې دغه قانون بنسټ نلري. ددغه قانون لومړی مادې د نوموړي قانون د طرحي او توشیح موخه داسي لیکلي: " دغه قانون د دولتي سکتور د اقتصادي ودې د ټینګښت او د دولتي تصدیو د چارو د تنظیم په موخه وضع شوی دی". په ۱۳۸۲ کال کې د افغانستان د اساسي قانون په توشیح سره د بازار اقتصاد د یوهّ اقتصادي اصل په توګه ومنل شو. مرکه کوونکي په ځانګړي توګه حقوق پوهان په دې باور دي چې، یو لامل چې په تیرو ۱۵ کلونو کې د افغانستان حکومت د تصدیو قانون نه دی تعدیل کړی دا دی چې دغه قانون د ۱۳۸۲ کال اساسي قانون له روحیې سره یوشان نه دی. مرکه کوونکي په ځانګړي توګه خصوصي سکتور په دې باور دی چې پر دغه قانون د تصدیو د کار دوام د دې لامل شوی چې د نفتي موادو او اوبلن ګازو په ګډون دولتي تصدۍ د اداري فساد په مرکزونو بدلې شي، او د تصدیو کارکونکو ته یې د دولتي شتمنیو د تالا ترغه کولو موکه برابره کړې.

اقتصاد پوهان په دې باور دي چې سربیره پر دې چې د بازار د اقتصاد اصل په اساسي قانون کې په روښانه ډول ذکر شویدي خو حکومت نوموړي سیستم ته د تګ لپاره ذهناً چمتو ندی او فکر کوي چې نوموړي سیستم ته تګ به منفی سیاسي پایلي له ځانه سره ولري. له همدې امله یې د تصدیو د برخلیک په اړه لا تر اوسه کومه پریکړه نده کړې.

### 4.2.1 زیانمننه

د دولت د تصدیو قانون د پلان شوي اقتصاد پر بنسټ چمتو شوی او د بازار د اقتصاد سره اړخ نه لګوي، لدې امله نوموړی قانون له پلي کیدو پاتې او د تصدیو د په ټپه دریدو لامل ګرځیدلی.

#### 4.2.1.1 سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د عدلیې او مالیې وزارتونو سره په همغږۍ د نوموړي قانون د له منځه وړلو طرحه چمتو او کابینې ته یې وړاندې کوي.

**ضرب الاجل:** د ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰ نېټه

## 4.3. د تصدۍ اساسنامه – ۱۳۶۶ کال

د نفتي موادو او اوبلن ګازو د تصدۍ رياست اساسنامه په ۱۳۶۶ کال کې تدوين او د افغانستان د اسلامي امارت په رژيم کې تعديل شوې ده. راوړل شوي تعديلات د تصديو قانون او پلان شوي اقتصاد پر بنسټ ولاړ دي. د طالبانو له لورې راوړل شوي تعديلات ، د نفتي موادو او اوبلن ګازو د تصدۍ عمومي رياست د لاندنيو دريو دندو په ترسره کولو مکلف کړی:

- د نفتي موادو او اوبلن ګازو تورید، ويش او پلور
- خصوصي سکتور ته د بندري خدمتونو وړاندې کول
- له خصوصي سکتور او قيمتونو له کنترول څخه څارنه

ددغې اساسنامې (د اسلامي امارت تعديل شوې) څلورمې مادې ۱، ۴ او ۵ فقرې د نفتي موادو او اوبلن ګازو د تصدۍ رياست د جوړښت موخه توضيح کړې چې د اساسي قانون له ۱۰ مادې سره په ټکر کې ده او د قيمتونو په کنترول کې د دولت د روښانې مداخلې لاره برابروي. ددې ترڅنګ، د هيواد د اقتصاد پوهانو له نظره د يوه انتفاعي ادارې له لورې ددغو دريو دندو ترسره کول د يادې ادارې او خصوصي سکتور تر منځ د ګټو د ټکر لامل شوی دی.

### 4.3.1. زيانمننه

د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تصدۍ د رياست اساسنامه د پلان شوي اقتصاد په اصولو ولاړه او د اساسي قانون د لسمې مادې سره په ټکر کې ده، او ياده اساسنامه د خصوصي سکتور د زيان منيدو او د ګټو د تضاد د رامنځته کيدو لامل ګرځيدلې ده.

#### 4.3.1.1 سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د عدليې او ماليې وزارتونو سره په همغږۍ، په هيواد کې د نافذه قوانينو په رڼا کې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ اساسنامه بيا ګوري او اړين اصلاحات پکښې راولي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰

## 4.4. د خصوصي پانګه اچونې قانون ۱۳۸۴

په افغانستان کې د خصوصي پانګې اچونې قانون دوهمې مادې ددغه قانون اهداف تصريح کړي دي: " ددغه قانون موخې د هيواد په اقتصادي ډګر کې د کورنيو او بهرنيو خصوصي پانګو اچونو د برخې (نقش) له لوړولو او د قانوني نظم له لوړولو سره د هغه د اداري جوړښت له جوړولو څخه عبارت دی چې د اقتصادي هڅونې، ودې او پرمختيا، د بوختيډو(اشتغال) د زمينې د برابرولو، د توليد او صادراتي عوايدو د زياتېدو، د تکنالوژۍ د ليږددو او د خلکو د ژوندانه د سطح د لوړولو او عامه سوکالۍ په عرض د کورنيو او بهرنيو خصوصي پانګو اچوونکو د هڅونې ملاتړ او مصئونيت موجب شي. "

مرکه کوونکي په دې باور دي چې اداري فساد، نا امني او بيروکراسي ددغه قانون د پلي کيدو په برخه کې د دولت د ناتوانۍ لامل شوي دي. دوی داسې استدلال کوي چې: " په داسې هيواد کې چې په رڼا ورځ او د پوليسو د پوستې په سل متری کې سوداګر اختطاف کيږي، په مستوفيتونو کې د ټکس د ورکولو لپاره بډې ورکول کيږي ترڅو د سوداګر ټکس ترلاسه کړي، له سوداګر څخه ملاتړ يوازې يو شعار دی او عملاً نه احساسيږي."

په تولیزه توګه په سیستم کې مدیریتي کمزوری، د وړو کارکونکو نشتوالی او په بهیر کې د نفتي توکو د مافیا لاس وهنه ددې لامل شوي چې ددغو قانون یوشمیر مادې پلې نه شي.

### 4.4.1. زیانمننه

ضعیفه حکومتولي او په بهیر کې د مافیایي کړیو را منځته کیدل، د دې لامل ګرځیدلي چې د خصوصي پانګې اچونې قانون په سمه توګه پلی نشي.

#### 4.4.1.1. سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د سوداګرۍ او صنایعو خونې سره په همغږۍ، د خصوصي پانګې اچونې د قانون څخه د سرغړونکو لپاره د جزا په پام کې نیولو او په بهیر کې د مافیایي کړیو د مداخلې د مخنیوي په موخه یوه پالیسي طرحه او تصویبوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰

## 4.5. د ګمرکونو قانون ۱۳۸۴

د ګمرکاتو قانون د ۳ مادې ۲۹ فقره ګمرکي محصول داسې تعریف کړی دی: " ګمرکي محصول: له هغه مبلغ څخه عبارت دی چې په ګمرکي تعرفه کې له درج شوې طبقه بندۍ او اندازو سره په مطابقت کې پر صادراتو یا وارداتو باندې وضع کیږي." همداراز د ګمرکاتو قانون څلورمه ماده په لومړۍ فقره کې، په هیواد کې د قانون د یو شان پلي کیدو په اړه داسې کښلي دي: "ګمرکي تقنیني سندونه د ټول هېواد په ګمرکي قلمرو کې یو شان تطبیقیږي." د هیواد ګمرکي قلمرو په پنځمه ماده کې تشریح شوی او عبارت دی له : د افغانستان ارضي، ابي او فضایي قلمرو څخه.

خو ډیری مرکه کوونکي په دې باور دي چې له پولو څخه په ځانګړي توګه د فراه او نیمروز له پولو څخه مافیایی کړیو ته د نفتي موادو د قاچاق د موکې شتون د دې لامل شوی چې د یاد قانون پورته یاد شوي مواد نقض او د سوداګرو او مامورینو ترمنځ پټو معاملو ته لاره هواره کړي. دا د قانون د پلي کیدو یوازینې زیانمننه نه ده، بلکې دغه کار ددې لامل کیږي چې له یوې خوا قاچاق شوي مواد د کیفیت د څیړلو او تصدیق پرته بازار ته راشي او له بلې خوا د دولت ګمرکي عواید را ټیټ کړي.

ددې ترڅنګ ددغه قانون د ۱۶ مادې لومړۍ فقره د کمیشن کارانو په اړه داسې کاږي: " ګمرکي کمیشینکاري غیر دولتي شغل دی چې د مالیې له وزارت څخه د جواز له اخیستلو وروسته یې شخص، سرته رسولی شي. " دغه ماده د کمیشن کارۍ فعالیت ته رسماً د مالیې وزارت د ګمرکاتو اداري په چوکاټ کې اجازه ورکوي او له مخې یې هغوی د سوداګرو سندونه طي مراحل کوي. مرکه کوونکي دغه ماده په ګمرکونو کې د اداري فساد د برابرولو ستر لامل بولي او کمیشن کارانو ته د هیواد په ګمرکونو کې د اداري فساد اصلي دلالان وايي. د یوشمیر سوداګرو په وینا، د ګمرک مامورین ډیری وخت د کمیشن کارانو له لارې مراجعه اړینه بولي او که کوم سوداګر دا کار ونه کړي نو ورسره ناوړه چلند کیږي، او د اسنادو پر مخ بیول یې له ځنډ سره مخ کیږي. لامل یې د مامورینو او کمیشنکارانو تر منځ جوړښت او یو د بل په ژبه پوهیدل دي.

### 4.5.1. زیانمننه

د کمیشنکارۍ د قانونمنیدو په تړاو د ګمرکونو د قانون د ۱۶ مادې لومړۍ فقرې، په ګمرکونو کې د پراخه فساد لپاره موکه برابره کړیده.

#### 4.5.1.1. سپارښتنه

د مالیې وزارت د عدلیې وزارت سره په همغږۍ د ګمرکونو د قانون ۱۶ ماده له منځه وړي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۰

## 4.6. د افغانستان د ملي ستندرد قانون ۱۳۹۲

د افغانستان د ملي ستندرد قانون د شپږمې مادې د لومړۍ فقرې پر بنسټ، د نورم او ستندرد ملي اداره، هیواد ته د واردیدونکو او د هیواد څخه د صادریدونکو توکو د کیفیت د څارنې دنده په غاړه لري، او په ۱۷ فقره کې صراحت لري چې "د ملي ستندرد اداري یوه له اساسي دندو څخه د پروسس شویو درملو او نورو طبي لوازمو،ښکلاییزو،روغتیایي، خوړنیزو موادو او اړوندو تاسیساتو په استثنی د اړوندو تصدیقونو او سندونو د تایید یا رد د مطابقت د ارزونې په منظور په تخنیکي مقراراتو (اجباري ستندردونو) کې د شاملو خدماتي پروسو پلټنه،ارزونه،تحلیل او لابراتواري ازمویل د وارداتي او صادراتي سوداګریزو مالونو، تولیدي محصولاتو په شمول ده".

د پورته مادې مطابق، د ستندرد خپلواکه ادره مکلفه ده چې د صادراتي او وارداتي توکو د کیفیت تفتیش،ارزونه او لابرتوار ترسره کړي، خو د ارزونو موندنې دا ښیي چې د انسا اداري له خوا د دغې مادې د نه پلي کیدو له امله ډېر بې کیفیته بهرني توکي افغانستان ته وارد او عرضه کیږي. ددې ترڅنګ، د افغانستان د ستندرد د ملي قانون له توشیح وروسته د ملي ستندرد اداره یوازې په دې توانیدلې چې د افغانستان په پنځو بندرونو (حیرتان، آقینه، تورغندی، اسلام کلا او نیمروز) کې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو کیفیت د هندي کمپنۍ پر مټ په نسبي ډول و ارزوي. د یادولو وړ ده چې د هیواد په پولو کې د لابراتوارونو د شتون سربیره، په هیواد کې د نفتي توکو بازار د بې کیفیته نفتو څخه ډک دی.[1] په نورم او ستندرد ملي اداره کې د کارکونکو د وړتیاو ټیټوالی او د لازمو وسایلو نشتوالی ددې لامل شوی چې دغه اداره په خپلواکه توګه ونه شي کړای په هیواد کې د ستندرد د ملي قانون د پلې کیدو له بهیره معیاري څارنه وکړي.

یوه بله ستونزه چې مرکه کونکو ورته اشاره کړې، د وزیرانو شورا د ۴۵ ګڼې مصوبې پواسطه د دغه قانون د ۲۱ مادې د ۲ فقرې نقضول دي، د نوموړې مصوبې متن داسې صراحت لري" د سوداګرۍ او صنایعو وزارت او د ملي ستندرد اداره موظف دي چې ددغه مدت له پای ته رسیدو وروسته ددې ترڅنګ چې د ستندرد خلاف نفتي توکو محصولات بیرته مستردوي باید د هغې عاملین د ملي ستندرد له قانون سره سم نقدي جریمه کړي" دا په داسې حال کې ده چې د ملي ستندرد قانون د ۲۱ مادې ۲ فقره د بې کیفیته توکو چې نفتي توکي هم پکښې شامل ګڼل کیږي سره د چلند په تړاو داسې حکم کوي" د دې مادې په (۱) فقره کې درج شوي د صادراتی او وارداتي په شمول راټول شوي سوداګریز مالونه او تولیدي محصولات د ستندرد د ملي اداري له پلټونکو او کار پیژاندو څخه د جوړ شوي هیئت په واسطه تر فني څیړنې لاندې نیول کیږي. په هغه صورت کې چې د صادراتي او وارداتي په شمول سوداګریز مالونه او تولیدي محصولات د انساني او حیواني مصرف وړتیا ولري یا له سمونې(جوړونې) او اصلاح څخه وروسته، د لومړنیو موادو په توګه د ګټې اخیستنې وړ وګرځي، د قانون د حکمونو مطابق پلورل کیږي، له هغو څخه لاسته راغلي وجوه د دولت د وارداتو په حساب بانک ته تحویلیږي، پرته لدې نوموړي مالونه او محصولات د مالیې، کورنیو چارو وزارتونو، د څارنوالی د اداري، ښاروالۍ، د چاپیریال ساتنې د ملي اداري او د ستندرد د ملي اداري د استازو په حضور کې محو کیږي".

مرکه کوونکي وایي چې د یادې مصوبې دغه بند د ملي ستندرد قانون د ۲۱ مادې د ۲ فقرې ښکاره او قصدي نقض ګڼل کیږي، او له دې څخه داسې بریښي چې د وزیرانو شورا د پریکړو تر شا د مافیا د لویو کړیو لاس دی.

### 4.6.1. زیانمننه

د بودجې د کمبود له کبله، په انسا خپلواکه اداره کې د اړینو وسایلو نشتوالی او د کارکونکو ټیټه وړتیا، د دې لامل ګرځیدلي چې د نورم او ستندرد ملي قانون په اغیزناکه توګه پلی نشي.

#### 4.6.1.1. سپارښتنه

[1] د افغانستان ورځپاڼه، د سلواغې ۱۹ ۱۳۹۴ مخ ۵ " د هرات ولایتي شورا د نورم او ستندرد په ادارو او جیوکیم کمپنی کې د اداري فساد د شتون خبر ورکړی. د هرات ولایتي شورا ویلي چې د نورم او ستندرد اداره او جیوکیم کمپنی هرات ته دبی کیفیته تیلو د واردیدو اجازه ورکړې چې یوه مورد یې دري ټانکره دي چې د هرات د ولایتي شورا او ځینو نورو خلکو له خوار درول شوي او څیړنې لاندې دي.

5.6.1.1 ګڼې سپارښتنې ته دې مراجعه وشي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۰

### 4.6.2. زیانمننه

د وزیرانو د شورا غیر تخصصي پریکړې او په پریکړو کې د نورم او ستندرد د ملي اداري رول په پام کې نه نیول، د قوانینو په ځانګړې ډول د ستندرد د قانون خلاف پریکړو د کیدو لامل ګرځیدلي او د قانون د پلي کیدو پر وړاندې یې ننګونې زیږولي دي.

#### 4.6.2.1. سپارښتنه

د نورم او ستندرد ملي اداره د بې کیفیته توکو د واردولو د مخنیوي په موخه یو میکانیزم چمتو کوي چې پر بنسټ به یې د نورم او ستندرد د قانون د ۲۰ او ۲۱ مادو د پلي کیدو څخه ډاډ تر لاسه شي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 4.7. د نفتواو اوبلن ګازو پالیسي ( ۳ شمیره ۱۳۸۶)

د نفتو او ګازو پالیسي د هیواد د اوسنیو شرایطو سره د نه سمون، د نفتي توکو د واردولو او په هیواد کې تولیدولو او یو شمیر نورو برخو کې د چوپتیا په تور، د خصوصي سکتور، سوداګرو او نفتي موادو د عمومي تصدي د ریاست له لوري تر نیوکو لاندې راغلې ده. مرکه کوونکي په دې باور دي چې دغه پالیسي په تولیزه توګه د بازار د اقتصاد له روحیې سره برابره ده خو د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی د ریاست لخوا ناسمه تعبیر او د پلي کیدو پر وړاندې یې ورته ستونزې رامنځته کړي. سره له دې چې پدې پالیسی کې درج شوي ټول خدمتونه اختیاري اټکل شوی خو دغه ریاست ډیری خدمتونو پر سوداګرو ورتپي. بله موضوع داده چې د دې پالیسی د لومړی برخې د ۹ بند پر بنسټ باید د سوداګری او صنایعو وزارت، ګډ سهامي شرکت ته د نفتي توکو او اوبلن ګازو تصدی د حقوقي شخصیت د بدلولو مطالعه کړې وای او په یوه مناسب وخت کې یې اړوندو ادارو ته د تصویب لپاره استولی وای، خو ددغې پالیسی له تصویب څخه د نهو کلونو په تیریدو سره تر دې دمه په دې برخه کې پرمختګ نه دی شوی.

### 4.7.1. زیانمننه

د پالیسی د موادو د یو شان نه پلي کیدو له کبله، د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدئ ریاست په زوره د هغو سوداګرو څخه چې د دوئ خدمتونه نه تر لاسه کوي، پیسې تر لاسه کوي. له بلې خوا د دې پالیسی د تصویب څخه ۹ کاله تیر شوي خو د پالیسی د لومړی برخې ۹ بند چې د سوداګری او صنایعو وزارت یې پدې مکلف کړی چې ګډ سهامي شرکت ته د نومړئ تصدئ د حقوقي شخصیت د بدلولو په تړاو خپله طرحه وړاندې کړي، تر اوسه نده پلي شوې.

#### 4.7.1.1. سپارښتنه

د سوداګرئ او صنایعو وزارت د پالیسی د یو شان پلي کیدو او ګډ سهامي شرکت ته د تصدئ د حقوقي شخصیت د بدلون په اړه، یوه هر اړخیزه طرحه چمتو او د منظورئ په موخه یې کابینې ته وړاندې کړي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 4.8. د وزیرانو شورا مصوبې او لنډ مهاله پریکړې

د نفتي توکو او اوبلن ګازو د توريد اړوند وزیرانو شورا له یوه کال څخه په لږ وخت کې څو دوله پالیسی وضع کړې، لکه د ۱۳۹۲ کال د کب میاشتې د ۵ نیټې د ۴۵ ګڼې مصوبه چې په یاده مصوبه کې لارښوونه شوې چې " د جیوکیم کمپنی

سره د نفتي موادو او اوبلن ګازو د کیفیت د کنترول قرارداد باید فسخه او د سوداګرۍ او صنایعو وزارت او د ستندرد ملي اداره دې دغه قرارداد له یوې بلې معتبرې نړیوالې کمپنۍ سره لاسلیک کړي." خو اوس مهال چې له دغې مصوبې څخه ۳ کاله تیریږي له جیوکیم کمپنۍ سره قرارداد نه دی فسخ شوی. په همدې ډول دغې مصوبې د A-80 پټرولو واردول هم بند کړي او لږ تر لږه یې په پټرولو کې A-92 او په ډیزلو کې L02-62 معیار ټاکلی ؤ، خو لا ډیر وخت نه ؤ تیر شوی چې د ۱۳۹۳ کال د غبرګولي میاشتې د ۹ ګنې مصوبې دغه پریکړه بدله کړه. یو مصاحبه کونکی زیاتوي چې هغه وخت چې A-80 تیل منع شوي ؤ، د دریو میاشتو لپاره دوی په کابل کې کولای شول د اسمان ستوري وګوري، خو په بیا اجازه ورکولو یې دوی له دې نعمته بې برخې شول.

د دې ترڅنګ په دې برخه کې د مصوبو د پلي کیدو څارل هم یوه ننګونه ده او ځیني وخت د بیلابیلو دلیلونو له امله له پلي کیدو پاتې کیږي. د بیلګې په توګه، د چاپ ځایونو د ستندرډونو د څیړولو په تړاو د ۴۵ ګنې مصوبې پریکړه چې باید د مصوبې له صادریدو یوه میاشت موده کې ترسره شوې وای، خو د مصوٻې له تصویبه درې کال تیر شوي او د اړونده ادارو له لوري د پلي کیدو په برخه کې کوم ګام نه دی پورته شوی.

د نورم او ستندرد ملي اداره په دې باور ده چې د پالیسیو زیاتوالي د نفتي توکو د واردولو بهیر له ستونزو سره مخ کړی، او نوموړې پالیسی له دغې اداري سره له سلا مشورې پرته، د سوداګرۍ، مالیې، اقتصاد او کانونو وزارت په مشوره تصویب شوې. د پریکړو کولو له بهیره د یوې مسلکي اداري ویستل، د یو شمیر سوداګرو له نیوکو سره مخ شوي او د وزیرانو شورا په پریکړو کې یې د نفتي موادو د مافیایي کړیو د لاس لرلو په اړه اندیښني رابرسیره کړي.

### 4.8.1. زیانمننه

د نفتي توکو د بهیر په تړاو د وزیرانو د شورا غیرمسلکي پریکړې چې په هیواد کې د نافذه قوانینو سره په ټکر او د نوموړي بهیر د مسلکي اداري د سلا پرته تصویب شوي، د دې لامل ګرځیدلي چې د بهیر نافذه قوانین له پلي کیدو پاتې او بهیر له خنډ سره مخ شي.

#### 4.8.1.1. سپارښتنه

د جمهوري ریاست د چارو اداري عمومي ریاست د اړوند ادارو په همکارۍ باید ټولې هغه پریکړې، مصوبات چې د تصویب لپاره کابینې او وزیرانو شورا ته وړاندې کیږي، د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې مطالعه او د تشو او نیمګړتیاو د رفع کولو وروسته، کابینې او وزیرانو شورا ته وړاندې کړي.

**ضرب الاجل:** دوامداره

## 5. د نفتي توکو او ا وبلن ګازو د تورید د بهیر رهبري او مدیریت

تر دې عنوان لاندې په نوموړي بهیر کې ښکیلې اداري، په بهیر کې د هغوی رول، د اړوند ادارو د تشکیلاتي جوړښت عمومي وضعیت، بشري سرچیني، مسلکي وړتیا، او په بهیر کې د ښکیلو ادارو د اړینو وسایلو اړوند مسایل تر ارزونې لاندې نیول شویدي.

# 5.1. ښکیلې اداري او په بهیر کې د هغوی رول

په افغانستان کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تورید په بهیر کې بیلابیلې اداري شاملي دي، خو د ټولو په اړه د مالوماتو وړاندې کول د دې رپوټ د کار له ساحې څخه وتلي، دلته به یوازې د هغو اداراتو په اړه مالومات وړاندې شي چې په بهیر کې کلیدي رول لري:

1. په افغانستان کې له پانګوونې څخه د ملاتړ اداره (ایسا)، د نفتي توکو او اوبلن ګازو واردونکي شرکتونه د پانګه اچوونکو شرکتونو په توګه ثبتوي.

2. د سوداګرۍ وزارت د سوداګریز جواز د صادریدو او ثبت عمومي ریاست، د عمومي سوداګرۍ جواز شرکت ته صادروي.
3. د نفتي توکو او اوبلن ګاز د سوداګریزو چارو د تنظیم امریت، په ایسا کې ثبت شوي شرکت ته د نفتي توکو او اوبلن ګازو په برخه کې د فعالیت جواز صادروي.
4. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ لوی ریاست، له هغې وروسته چې شرکتونه نفتي توکي واردوي، دغه ریاست د هغوی وارد شوي نفتي توکي ثبت او راجستروي. ددې ترڅنګ ددغې اداري یوه مهمه دنده د هیواد په بازارونو کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د نرخ د کنترول په موخه رقابت یا سیالی ده. ددغه ریاست په اړه نور جزیات به په راتلونکو برخو کې وړاندې شي.
5. د مالیې وزارت د ګمرکاتو معینیت، په بندرونو کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د ګمرکي سندونو او محصول د پراونو د ترسره کولو دنده لري چې د تورید په بهیر کې ځانګړی ارزښت لري.
6. د ستندرد ملي خپلواکه اداره (انسا)، د تورید د بهیر یوه مهمه برخه چې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د کیفیت کنترول په غاړه لري. خو د مسلکي وړتیاو او لازمو لابراتواري وسایلو د کمښت له امله دغې اداري د نفتي توکو او اوبلن ګاز د ازمایښت او لابراتوار مسوولیت د یوه قرارداد له مخې د (جیوکیم میدل ایست) کمپنۍ ته ورکړی دی.
7. د جیوکیم میدل ایست کمپنۍ، په حقیقت کې د نورم او ستندرد ملي اداري (انسا) په استازیتوب د نفتي توکو د ازمایښت او لابراتوار مسوولیت په غاړه لري.
8. د فوائد عامې وزارت، د هیواد له لویو لارو څخه د حق العبور او موټرونو د اکسل مطابق د نفتي توکو د کاروانونو د وزن د کنترول مسوولیت لري.
9. ښاروالۍ، د ښاروالۍ په قلمرو کې د نفتي توکو د تشیدو په صورت کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو له کاروانونو څخه د تهجایي پیسې اخلي. په ښار کې دننه ټانکونو ته د فعالیت جواز او د ټانک ودانیز پلان ورکوي.
10. د چاپیریال ساتنې ملي اداره هم د نفتي توکو او او اوبلن ګازو د تشیدو مرکزونو ته جواز صادروي.
11. ښاري پراختیا وزارت هم باید د نفتي توکو او او اوبلن ګازو د تشیدو مرکزونو شرکتونو ته نقشه او د تیلو ټانک جواز ورکړي.
12. سرحدي پولیس چې د بې کیفیته توکو په ځانګړي توګه د نفتي توکو او اوبلن ګازو د بیرته مستردولو مسوولیت لري.
13. د لویو لارو پولیس چې د لویو لارو د امنیت مسوولیت لري او د نفتي توکو کاروانونه لدې لارو تیریږي.
14. د ترانسپورت وزارت، هم د نفتي توکو د کاروانونو په بارولو او لیږد بهیر کې رول لري.

د نفتي توکو او ګازو د واردولو او ویش په بهیر کې د زیاتو اداراتو شاملیدل، نوموړی بهیر له بیلابیلو ننګونو سره مخ کړیدی، په یوه اداره کې د کار ځنډ کولای شي د بهیر ټولې اړوندې اداري له ځانه سره بدنامه کړي. مرکه کوونکو په یادو ادارو کې د فساد د شتون په اړه اندیښنه ښودلې. دوی زیاتوي چې په بهیر کې د اړوند ادارو د رول په اړه د مامورینو بې خبري او د کار ځنډ له لویو ستونزو څخه دي، چې په پایله کې یې مراجعین د بډو ورکولو ته اړ ایستل کیږي. ددې ترڅنګ په نوموړو اداراتو کې په کلاسیکه توګه د چارو پر مخ بیول، بله ستونزه ده چې مرکه کونکو ورته ګوته نیولې.

### 5.1.1. زیانمننه

د نفتي توکو د واردولو په بهیر کې د مشرتابه نشتوالي او په بهیر کې د مختلفو ادارو ښکیلتیا، د بهیر مدیریت او د اړوند اداراتو تر منځ همغږۍ زیانمنه کړې او په بهیر کې د روڼتیا او حساب ورکونې د کمښت لامل ګرځیدلې.

#### 5.1.1.1. سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د بهیر د مشرتابه دنده په غاړه اخلي او په بهیر کې د روڼتیا او همغږۍ د رامنځته کولو په موخه، یو روښانه میکانیزم رامنځته کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۱۵

## 5.2. د دندو ورته والی:

د دې لپاره چې یو شرکت وکولای شي هیواد ته نفتي توکي او اوبلن ګاز وارد کړي، اړینه ده چې له دریو مراجعو څخه جواز تر لاسه کړي. دا درې دوله جوازونه په افغانستان کې د پانګونې څخه د ملاتړ اداره( آیسا)، د سوداګرۍ وزارت د مرکزي ثبت ریاست او د همدې وزارت د نفتي توکو او اوبلن ګازو د چارو د تنظیم امریت صادروي. ددې ترڅنګ، د چاپیریال ساتنې اداره، ښاروالی او د ښاري پراختیا وزارت هم د جواز د صادریدو په بهیر کې په یوه بڼه ښکیل دي. مرکه کوونکي په دې باور دي چې د جوازونو د شمیر زیاتوالی د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو په بهیر کې یو ډول نا اړینه بیروکراسي ګډل کیږي او بهیر یې د فساد پر وړاندې زیانمن کړیدی.

### 5.2.1. زیانمننه

په بهیر کې د جواز صادرونکو ادارو ډیروالي او پیچلې بیروکراسی، سوداګر او پانګوال ګیچ کړي او د فساد لپاره یې موکه برابره کړیده.

#### 5.2.1.1. سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت، د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو د پروسې د جواز په صادرولو کې د ټولو ادارو رول ارزوي او یوه طرحه چمتو کوي چې له مخې به یې جواز د یوې اداري لخوا صادریږي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۱۵

## 5.3. د کار له حجم سره د تشکیلاتي جوړښت نه همغږي:

په بهیر کې ښکیل ځیني ادارات لکه د هرات او حیراتانو سیمه ایزو ګمرکونو ریاستونه، د نورم او ستندرد ملي اداره او همدارز د نفتي توکو او اوبلن ګازو د عمومي تصدۍ ریاست، د کار د کچې او تشکیلاتي جوړښت د نه همغږۍ څخه سر ټکوي او زیاتوي چې موجوده تشکیل په بهیر کې شته ستونزو ته ځواب ویونکي نه دي. دا د نه همغږۍ ستونزه په ځینو اداراتو کې د تشکیلاتي پرسوب او په ځینو نورو کې بیا د د تشکیلاتو د کمښت په بڼه موجوده ده. ددوی په باور ددغه بهیر سم مدیریت او رهبري دسیمه ایزو ادارو د تشکیلاتي جوړښت له تخصصي کولو او څارنې سره مستقیمه اړیکه لري، او له پامه غورځول به یې د فساد د لازیاتیدو لامل وګرځي. دوی وایي چې د تشکیل کمښت، مراجعینو ته د پر وخت خدمتونو وړاندې کولو پر وړاندې ستونزې را ولاړې کړیدي، د بیلګې په توګه د هرات د ګمرک چارواکو په څو کارې برخو په ځانګړي توګه د سوداګریزو توکو د تشریح په برخه کې د تشکیل د کمښت یادونه کړې چې له امله یې هر کال د ګمرک د عوایدو د پام وړ برخه ضایعه کیږي.

د نفتي توکو او اوبلن ګازو تصدۍ لوی ریاست د ۱۷۶۷ بستونو په درلودلو ډیر لږ خدمات وړاندې کوي، او د چاروکو په وینا یې ، نوموړی ریاست څه د پاسه ۴ میلیارده افغانۍ پوروړی هم دی. ددغه ریاست نوي چارواکي هم په دې باور دي چې د نوموړي ریاست تشکیلاتي جوړښت د کار د کچې سره سمون نلري او باید و ارزول شي.

### 5.3.1. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ په ریاست کې، د تشکیلاتو پرسوب د دې لامل ګرځیدلی چې د دې اداري څه ناڅه ۶۰٪ کارکونکي په بیکارۍ اخته او د فساد د موکو په لټه کې واوسي.

#### 5.3.1.1. سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نوموړې تصدۍ د ریاست سره په سلا د ریاست ټول تشکیلاتي جوړښت ارزوي او اضافه بستونه د تشکیل څخه وباسي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰

### 5.3.2. زیانمننه

په یو شمیر ګمرکونو کې د کارکونکو کموالی، د تشریح څخه د توکو د پاتې کیدو، اداري فساد او مالیاتو د ورکړې څخه د تیښتې لامل ګرځیدلي دي.

#### 5.3.2.1. سپارښتنه

د مالیې وزارت د ګمرکونو له چارواکو سره په سلا، د ګمرکونو تشکیلاتي جوړښت ارزوي او تشکیلات د کار له کچې سره عیاروي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د کب ۲۹

## 5.4. د مسلکي بشري سرچېنو کمښت

په سیمه ایزو ادارو کې د بشري سرچینو کمښت په عمومي ډول دوه لامله لري. ۱) سربیره پر دې چې اړوند ادارات د کارکونکو د سخت کمبود سره لاس او ګریوان دي، خو د بستونو د نشتوالي له امله ځوک نشي ګمارلی. د هرات ګمرک چارواکو د څارنې او ارزونې کمیټې له غړو سره دا ستونزه شریکه او زیاته یې کړه چې د سل ګونو وارداتي جنسونو تشریح په موجوده تشکیلاتو شونې نده ځکه نو دوی د نمونې په تشریح کولو بسیا کړیده. ۲) له دې امله چې معاشونه لړ دي او متخصصین او مسلکي کسان په لرو سرحدي سیمو کې په لړ معاش کار کولو ته چمتو نه دي، دا کار ددې لامل شوی په لوړ ظرفیت بشري سرچینې په سیمه ایزو ادارو کې جذب نه شي. د نورم او ستندرد ملي اداري چارواکي ټینګار کوي چې ددغې اداري په لابراتوارونو کې د فني کسانو ګمارل په اوسني ټیټ معاش سره شونې نه دي. د کارکونکو کمښت د کار د کیفیت د اغیزمن کیدو سربیره، د کار د ځنډ او بډو ورکولو لامل ګرځیدلي.




مرکه کوونکي په دې باور دي چې دغې ستونزې د نفتي توکو او اوبلن ګازو تصدۍ هم اغیزمنه کړې ده. نوموړې تصدۍ شاوخوا د ۱۷۶۷ بستونو پراخ تشکیل لري چې له دې شمیرې څخه ۸۵۰ مامورین او پاتې ۹۱۷ اجیر او خدمتي کارکوونکي دي، خو د مسلکي کارکوونکي له کمښت څخه رنځیږي. په یاده اداره کې د مامورینو د پام وړ کچه، د دولسم ټولګي له فارغانو او یا له دولسم ټولګي هم ښکته زده کړو لرونکو کسانو لخوا تشکیل شوې چې د وړتیا وده یې د مناسبو علمي فرصتونو او د دوی د لیوالتیا د نشتوالي له امله یوه ستره ننګونه ده. د

## 5.5. د کارکوونکو ټیټه وړتیا

مرکه کوونکي په دې باور دي چې د ادارو د کارکوونکو د ظرفیت د ټیټوالی یو لامل د معاش او امتیازونو د کمښت ترڅنګ په دغو ادارو کې د ګمارنې په بهیر کې د روڼتیا نشتوالی دی. د دوی په وینا دغه ستونزه په ګمرکونو کې ډیره تر سترګو کیږي، دوی زیاتوي چې : "د هیواد د ګمرکونو ډیر کارکوونکي د زیاتو بډو په ورکولو او یا هم له لوړپوړو دولتي چارواکو لکه وکیل،وزیر یا سیاسي رهبر سره د اړیکو درلودلو له امله په بستونو کې ګمارل شوي دي." په لرو پرتو سیمو کې په ټیټ معاش کار کول او پرمختللو وسایلو لکه د لوړ ماډل موټرو ته د ګمرک د مامورینو لاسرسی د نوموړي ادعا د کره والي پخلی کوي. مرکه کوونکي په دې باور دي چې په دغو ادارو په ځانګړې توګه د نفتي توکو او اوبلن ګازو عمومي تصدی ریاست کې د وړتیا وده، د پراخو اصلاحاتو او د کارکونکو  د هر اړخیزې ارزونې پرته ناشونې دي.

### 5.5.1. زیانمننه

د عایداتي ادارو د ګمارنې په پروسه کې د زورواکو مداخله او په  پروسه کې د روڼتیا نشتوالی، په نوموړو اداراتو کې د نالایقه کسانو د ګمارل کیدو او د وړتیا د ودې د بهیر د په ټپه ودریدو لامل ګرځیدلي دي.

#### 5.5.1.1. سپارښتنه

د اداري اصلاحاتو خپلواک کمیسیون د مالیې او سوداګرۍ وزارتونو سره په همغږۍ، د عایداتي ادارو ټول کارکونکي ارزوي او هغه کارکونکي چې روزنیزو خپرونو ته اړتیا لري، اړوند روزنیزو خپرونو ته ور معرفي کوی.

**ضرب الاجل:**۱۳۹۶ کال د کب ۲۹

## 5.6. د  تجهیزاتو او لازمو کاري وسایلو نشتوالی

د ځینو ولایتونو د ګمرکاتو ریاستونه، په ځانګړي توګه د هرات ګمرک د خپل اړتیا وړ وسایلو باندې سمبال نه دي،ددغو ادارو چارواکي د فعال سکنرونو او بریښنا نشتوالی په یادو ادارو کې له سترو ننګونو څخه بولي او وایي که سکنرونه په سمه او معیاري توګه فعاله شي کیدای شي د قاچاقو او سوداګرو له خوا مامورینو د دوکې په مخنیوي کې مهمه ونډه ولوبوي. ځیني مرکه کوونکي په دې باور دي چې د ځینو ولایتونو په ګمرکونو لکه د هرات په ګمرک کې جنراتور او سکنرونه شته خو مامورینو یې په قصدي ډول پرزې خرابې کړي ترڅو د بډو او قاچاق لپاره لاره هواره کړي.

همداراز د نورم او ستندرد ملي ادارې هم په هیواد کې د لابراتوارونو د وسایلو له کمښت څخه اندیښنه ښودلې ده. د اداري فساد پر وړاندې د پارلمان د غړو د یوه پلاوي  ارزونه ښیي  چې په پولو کې د جیوکیم لابراتوارونه په سمه توګه کار نه کوي. د نوموړي پلاوي یو غړی زیاتوي چې یو شمیر ګمرکونو په ځانګړي ډول د فراه ولایت په ګمرک کې د ګمرک تله داسې عیار شوې چې اضافه وزن نه ښیي، جنراتورونه فعال ندي او لابراتوارونه هم داسې عیار شوي چې سمه پایله نه ښیي.

### 5.6.1. زیانمننه

د بودجې د نشتوالي له امله د نورم او ستندرد ملی اداره په اړینو وسایلو نده سمبال شوې، اود وسایلو نشتوالی د دې لامل ګرځیدلی چې د نورم او ستندرد ملي قانون پلی نشي.

#### 5.6.1.1. سپارښتنه

د نورم او ستندرد ملي اداره د وړتیا د ودې او اړینو وسایلو د رانیونې په موخه یوه هر اړخیزه طرحه چمتو او د مالیې وزارت او نړیوالو بسپنه ورکونکو قناعت تر لاسه کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د کب ۲۹

#### 5.6.2. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو گازو د بهیر پورې تړلو اداراتو د اداري سامان آلاتو د ساتنې په هکله د یوې معیارې پالیسی نشتوالي د دې لامل گرځیدلي چې سامان او لوازم د وخت څخه وړاندې او ځینې وخت په لوی لاس له کاره ولویږي او هیڅوک پدې اړه مسؤل ونه گڼل شي.

##### 5.6.2.1. سپارښتنه

د اداراتو د سامان او لوازمو د ساتنې په موخه د مالیې وزارت یوه مقرره طرحه او تصویبوي چې پر بنسټ به یې کارکونکي د اړوند وسایلو د ساتنې دنده په غاړه لري او له کاره د لویدو په صورت کې به یې تاوان ورکوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د مرغومي ۱۰

## 5.7. د سیمه ایزو ادارو د کارکوونکو د صلاحیتونو او مسوولیتونو ترمنځ د انډول نشتوالی :

مرکه کوونکي په دې باور دي چې د هیواد په اوسني اداري نظام کې د مسوولیتونو او صلاحیتونو ترمنځ انډول (برابري) نه شته. د سیمه ایزو ادارو چارواکي اړ کیږي چې په ډېرو عادي مسلو آن د ډیر معمولي مالوماتو په ورکولو کې له مرکز څخه لارښونه وغواړي. یو شمیر راتول شوي سندونه ددې څرگندوي کوي چې اداري آن د عادي مالوماتو په راکړې ورکړې کې له یو بل سره همکاري نه کوي د بیلگې په توگه، په تورغنډي بندر کې د نورم او ستندرد ملي اداري څانگې له گمرکونو څخه د ۸۵/۱۹۳ گڼه د ۱۳۹۳/۶/۵ نیټې مکتوب له لارې د مالوماتو غوښتنه کړې چې وروسته بیا د تورغنډي گمرک مدیریت د ۱۱۱ گڼه د ۱۳۹۳/۶/۱۵ مکتوب سره د رد ځواب ورکړی دی.[1] ددې ترځنگ ډیری وخت د ځینو دلیلونو له امله مرکز نه شي کولای چې ډېر ژر د هغوی پوښتنو ته ځواب وواېي چې دا کار د وخت د ضایع کیدو، او مراجعینو د ناخوښی لامل کیږي او ځینې وخت پر فساد د چارواکو د ککړتیا شک رامنځته کوي.د مرکه کوونکو په باور د هیواد په اداري نظام کې د مسوولیتونو او صلاحیتونو ترمنځ تعادل په پام کې نه دی نیول شوی.

#### 5.7.1. زیانمننه

په سیمه ایزو ادارو کې د صلاحیت او مسولیت تر منځ د انډول نشتوالی او په مرکز کې د صلاحیت انحصار، په سیمه ایزه کچه د کارونو د ځنډیدو او مراجعینو د نارضایتی لامل گرځیدلي.

##### 5.7.1.1. سپارښتنه

د اداري اصلاحاتواو ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د عدلیې وزارت، د جمهوري ریاست د چارو اداري د ریاست او د سیمه ایزو ارگانونو د خپلواکې اداري سره په همغږی، د اداري اجرااتو د قانون په مسوده کې د دولتي کارکونکو د صلاحیت او مسولیت تر منځ انډول په پام کې نیسي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۶ کال د غبرگولي ۲۹

[1]- د تورغونډي گمرک مدیریت مکتوب متن داسې لیکل شوی دی (ژباړه) " د گمرکي چارو د قوانینو،مقرارتو او پروسیجرونو پر بنسټ، دغه مدیریت نه شي کولای چې سندونه د نورو دولتي او نا دولتي ادارو او موسیسو په واک کې ورکړي، بنا د پورته یادو شویو مراتبو په پام کې زموږ بخښنه ومنئ"

## 6. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تورید د بهیر حقیقي اجرات

د رپوټ دغه برخه د بهیر د عملي اجرااتو د زیانمننو پیژندلو ته ځانګړې شوې. د حقیقي اجرااتو پروسیجر چې په دې برخه کې څیړل شوی په لاندې مهمو پړاونو ویشل شوی چې هر یو یې بیلابیل قدمونه یا مرحلې لري:

1. د جوازونو اخیستل
2. دنفتي توکو او اوبلن ګازو قرارداد
3. دوه مرحله یي لیږد او ترانسپورت
4. په صفري نقطه کې تم کیدل
5. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدی ریاست له لورې د بندري خدمتونو وړاندې کول
6. د کیفیت ازمایښت
7. د ګمرکي پړاوونو ترسره کول
8. د فوائدي عامي وزارت له تلې تیریدل
9. خپل د موخې ښار ته د رسیدو په موخه د افغانستان له لویو لارو تیریدل
10. د ښاروالیو د تهجایي محصول

هغه فعالیتونه چې په دغو پړاوونو کې ترسره کیږي، ډیری یې په تولیزه توګه د وزارتونو د ګډو ټیمونو تر څارنې لاندې ترسره کیږي. ارزونه ښیي چې پورته یاد شوي ټول پړاوونه د اداري فساد پر وړاندې زیانمن دي او د فساد مختلفې بڼې لکه په لویو لارو کې شوکې، په تلو کې د اضافه وزن بارولو په بدل کې د بډو اخیستل، د بې کیفیته توکو واردولو ته اجازه ورکول، د بار نامو جعل، دوکه او ټګي، له واردونکو سره له تبعیضه ډک چلند، د قاچاق د موکو شتون پکښې لیدل کیږي، چې د هر یوه په اړه به یې جزیات په راتلونکو مخونو کې وړاندې شي.

## 6.1. د جوازونو اخیستل:

ددې لپاره چې سوداګر وکولای شي هیواد ته نفتي توکي وارد کړي، باید له ایسا اداري څخه د پانګوونې جواز،د سوداګرۍ او صنایعو وزارت  د مرکزي ثبت ریاست څخه د شرکت جواز او د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تنظیم له امریت څخه د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردولو ځانګړی جواز ترلاسه کړي.

- لومړی کله چې سوداګر د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردیدو حوزې ته داخلیږي باید له پانګوني څخه د ملاتړ اداري (آیسا) څخه د پانګوني جواز ترلاسه کړي.
- دوهم ګام د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د ثبت مرکزی او مالکیت فکري په لوی ریاست کې د شرکت ثبت او راجستر کول دي.
- په پای کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تورید لپاره دریم  شرط د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تنظیم امریت له لوري د نفتي توکو د تورید د ځانګړي جواز صادرول دي. وروسته له هغې چې د نفتي توکو سوداګر د شرکت جواز ترلاسه کړ باید یادي شعبې ته ولاړ شي او د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تورید جواز ترلاسه کړي. له دغې اداري څخه دتورید جواز ترلاسه کولو لپاره  د نفتي توکو سوداګر باید لږ تر لږه پنځه سوه زره ډالره نغدي پیسي ولري او د سوداګریز شرکت مالک اوسي، ځیني مرکه کوونکي  د یوه سوداګریز شرکت لپاره دغه شرایط د فساد پر وړاندې زیانمن بولي او وایي چې ځیني کمپنی بې له دې چې په بانک کې پیسې ولري، د بډو په بدل کې د بانک اسناد جوړوي.

مرکه کوونکي په دې باور دي چې د یوې موخې لپاره له څو ادارو څخه د جواز تر لاسه کول، د وخت د ضیاع تر څنګ د بډو اخستلو لپاره هم لاره اواروي.

### 6.1.1. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو د بهیر د جواز د تر لاسه کولو په پروسه کې د اداراتو زیاتوالی، د سوداګرو د سرخوږی تر څنګ، د فساد لپاره موکه برابره کړېده.

#### 6.1.1.1. سپارښتنه

5.2.1.1 سپارښتني ته دې مراجعه وشي.

## 6.2. د نفتي توکو او اوبلن ګازو قرارداد:

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو په بهیر کې یو له ستونزمنو پړاونو د صادرونکو هیوادونو سره د نفتي توکو قرارداد دی. په نوموړي پړاو کې د شته ستونزو په اړه د سوداګرۍ او صنایعو خونه وايي، چې د افغانستان دولت سوداګرو سره د نفتي توکو په پیرلو کې اړینه مرسته نه کوي، چې دا کار د سوداګرو تر منځ د ناسالم رقابت، د پیر د قیمت د لوړیدو، او بې نظمۍ لامل ګرځي. د دوی د مالوماتو پر بنسټ، د نوموړي پړاو په پیل کې لومړی صادرونکو هیوادونه د نفتي توکو کچه تعینوي او بیا یې بازار ته د بولۍ لپاره وړاندې کوي. سوداګر د دې لپاره چې توکي تر لاسه کړي، یو د بل سره په ناسالمه رقابت لاس پورې کوي او نفتي توکي د نړیوال بازار له نرخه په زیاته بیه رانیسي.

د سیمې د ډیری هیوادونو لکه ایران،پاکستان او هند نفتي توکو سوداګر د دولت یو استازی له ځان سره لري او دغه دولتي استازي یوازې هماغه لومړنی اعلان شوی نرخ تائیدوي او نفتي توکي په ټیټه بیه رانیسي. وروسته سوداګر د خپلې وسې سره سم نفتي توکي پیري، خو افغان سوداګر هر یو بې له کوم حکومتي استازي په خپلواکه توګه د بولۍ په بهیر کې ګډون کوي چې دا کار د نرخ د لوړیدو لامل ګرځي، تر دې چې بعضي وخت افغانستان ته واردیدونکي نفتي توکي د نړیوال بازار له نرخه ٪۵۰ قیمته پیرل کیږي، د بیلګې په توګه د ۱۳۹۴ کال په وروستیو کې چې د یوه ټن پټرولو قیمت له ۲۷۰ ډالرو څخه ښکته روان وو افغان سوداګرو یو ټن پټرول ۴۵۰ ډالره پیرل.

د نفتي توکو د رانیولو څخه وروسته سوداګر د توکو د پیر سندونه تر لاسه کوي او توکي د بار لیږدونکو شرکتونو ته ورسپاري. د شرکت ډرایور د توکو د لیږد سند (چې د ټانکرونو لپاره د CMR[1] او واګونونو لپاره د Consignment په نومونو یادیږي) له شرکت څخه اخلي او افغانستان ته د داخلیدو پر مهال یاد سند د سرحدي ګمرک مسوولینو ته تسلیموي.

مستهلکین په دې باور دي چې د بهیر د کمزوري مدیریت لامل د نفتو او ګازو د واردولو په بهیر کې د ګټو تضاد او د یوې ځانګړې مافیایي کړۍ پواسطه د یادې سوداګرۍ انحصار دی، چې له امله یې رامنځته شوی زیان د افغانستان بې وزله خلک ګالي.

یو شمیر سوداګر په دې باور دي چې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ د ریاست له لارې د نفتي توکو رانیول او وروسته په سوداګرو ویشل، کولای شي نوموړې ستونزه حل کړي.

### 6.2.1. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د قرارداد په بهیر کې د سوداګرۍ او صنایعو وزارت لاس تر زني کښیناستل او د سوداګرو سره د همکارۍ نه کول د دې لامل ګرځیدلي چې د هیواد یو شمیر مافیایي کړۍ د ګاونډیو هیوادونو د چارواکو سره لاس یو او نفتي توکي په افغاني سوداګرو په لوړه بیه خرڅ کړي.

#### 6.2.1.1. سپارښتنه

[1] Convention on the contract for the International Carriage of Goods by Road, (CMR) Done at Geneva on 19 May 1956, United Nation.

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د نفتي توکو د واردولو د بهیر د مافیایي کیدو او ګران پلورلو د مخنیوي او د مستهلکینو څخه د ملاتړ او رقابت د قوانینو د پلي کیدو په موخه، د سوداګرو تر منځ د سالم رقابت موکه برابروي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لیندی ۳۰

## 6.3. لیږد را لیږد/ ټرانسپورټ

د نفتي توکو له پیرلو او قرارد وروسته د ټرانسپورټ او هیواد ته دننه د لیږد پړاو پیلیږي. د لیږد بهیر دوه پړاویز دی چې یو پړاو یې د افغانستان تر بندرونو او بل یې له بندرونو څخه ولایتونو ته دی. معمولاً افغان سوداګر د افغانستان بندرونو ته د نفتي توکو د لیږد لپاره له ټانکرونو او اورګاډي څخه ګټه اخلي.

د پولې دواړو غاړو کې د پولیسو ناوړه چلند، او په زوره د پیسو اخستل هغه ستونزې دي چې ډیری موټروانان ترې سر ټکوي. دګاونډیو هیوادونو د پولیسو لخوا د پیسو اخستل هغه ستونزه ده چې ډیری موټروانانو ورته ګوته نیولې خو څرنګه چې د ارزونې هیئت نوموړو هیوادونو ته سفر ندی کړی، تائید یا ردولی یې نشي. خو د هیواد په دننه کې د پولیسو ناوړه چلند او پیسې اخستل د ارزونې پلاوي په خپلو سترګو لیدلي، چې جزییات به یې په راتلونکو عنوانونو کې وړاندې شي. ددې ترڅنګ، د ګاونډیو هیوادونو له لوري د TIR معاهدې نه رعایتول یوه بله ننګونه ده او د افغانستان سوداګر نشي کولای افغاني موټر د تیلو د لیږد لپاره ګاونډیو هیوادونو ته له ځانه سره یوسي. د نورم او ستندرد اداره د دې کار لامل په نړیوالو معیارونو د د افغانستان د ټانکرونو نه برابریدل بولي.

### 6.3.1. زیانمننه

نړیوالو معیارونو سره د افغانستان د بار دلیږد د وسایلو نه برابرښت، د دې لامل ګرځیدلي چې سوداګر ونشي کولای نفتي توکي په افغاني موټرو کې هیواد ته وارد کړي.

#### 6.3.1.1. سپارښتنه

د ټرانسپورټ او ملکي هوایي چلند وزارت، وړاندې تر دې چې د بار د لیږد نړیوالو شرکتونو ته د فعالیت جواز ورکړي، د TIR د معیارونو د پلي کیدو څخه دې ځان ډاډه کړي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۶ کال د کب ۲۹

## 6.4. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ د ریاست له لورې، سوداګرو ته د بندري خدمتونو وړاندې کول

وروسته له هغې چې د سرحدي ګمرک مدیریت د تیلو/ګازو سندونه د نفتي توکو او اوبلن ګازو اړوند بندري مدیریت ته واستوي، د نفتي توکو مدیریت هم د ګاز او تیلو د مجموعي قیمت څخه شاوخوا ۷۸.۱ سلنه پیسې د حق الخدمت په نامه په لاندني لیست کې د درج شویو بیلابیلو خدمتونو په بدل کې اخلي. وروسته سندونه د رسمي استعلام په واسطه د انسا ادارې ته استول کیږي.

مرکه کوونکي په دې پړاو کې د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ له امریتونو څخه شکایت لري چې د لازمو خدمتونو له وړاندې کولو پرته، له ټولو سوداګرو څخه یو شان پیسې اخلي. د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدۍ چارواکي د مرکه کوونکو او سوداګرو دغه ادعاوې ردوي او وایي چې یوازې د هماغه ځانګړي خدمت په بدل کې چې د یاد ریاست له خوا سوداګرو ته وړاندې کیږي له لایحې سره سم حق الخدمت اخستل کیږي، چې لوړه کچه یې د یوه ټن د قیمت ۷۸.۱ سلنه ده.

دغه پيسي معمولا له زيرمو څخه د ګټي اخيستني، ليږد، اور وژني (اطفائيه) او نورو خدمتونو په بدل کې چې په لاندني جدول کې ذکر شوي اخيستل کيږي.

**د تصدی د رياست د خدمتونو جدول**

| شميره | خدمتونه | د حق الخدمت محصول په فيصدی | |
|---|---|---|---|
| ۱ | د سوداګرو وارد شوي نفتي توکو او اوبلن ګازو تثبيت او راجستر | 0/05 | |
| ۲ | په زيرمو کې د سوداګرو د نفتي توکو او اوبلن ګازو ساتل | 0.5 | |
| ۳ | د بار نامي ترتيب | 0/05 | |
| ۴ | وزن کول | 0/05 | |
| ۵ | د واګونونو اندازه کول | 0/02 | |
| ۶ | له صفري نقطي څخه تر زيرمو د امنيت ټينګښت | 0/3 | |
| ۷ | د سيار او ثابتي اطفائيي سرويس | 0/4 | |
| ۸ | د زيرمو د وسايلو استهلاک | 0/3 | |
| ۹ | د نفتي توکو تشول (تخليه) | 0/05 | |
| ۱۰ | د نفتي توکو بارول | 0/06 | |
| **د وارد شويو نفتي توکو او اوبلن ګازو له عمومي قيمت څخه د حق الخدمت پيسو مجموعه** | | %1.78 | |



د هيواد په بندرونو کې د نفتي توکو د تصدی رياست د تآسيساتو څخه د ارزوني د پلاوي ليدنه دا ښيي چې ډيری دا تآسيسات له کاره لويدلي او ډير زاړه دي. د سوداګرو په وينا، سوداګر لدی تاسيساتو ځکه ګټه نه اخلي چې:

- وسايل او ودانی ډيرې زړې دي او د دې احتمال موجود دی چې نفتي توکې ضايعه شي؛
- د نفتي توکو د زيرمه کولو پر مهال د توکو تري تم کيدل ددغې اداري پر پرسونل د سوداګرو باور له منځه وړی، د نفتي توکو او اوبلن ګازو يو وتلي سوداګر وايي چې په ۲۰۰۸ کال کې په يوه دوره کې د بيرته بارولو پر مهال د ده ۱۵۰۰ ټنه تيل کم شول او تر اوسه ۷۵۰ ټنه تيل بيرته ده ته نه دي ورکړل شوي.
- د نفتی توکو ډيری سوداګرو مجهزې او مدرنې زيرمي جوړې کړي چې د نفتي توکو او اوبلن ګازو تصدی ودانی ورسره نه شي پرتله کيدلای.

مرکه کوونکي په دې باور دي چې د نفتي توکو د تصدی رياست سره له دې چې يوه عايداتي اداره ده، او د دې پر ځای چې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د بهير په مديريت کې د يوې پياوړې اداري په توګه راڅرګنده شوې وای، برعکس دغه اداره د اداري فساد تر فوق العاده اغيز لاندې ده، مرکه کوونکي يې لامل ددغه رياست د پخوانيو چارواکو د وړتيا نيتوالی، په اداره کې د معياري مالي او حسابي سيستم نشتوالی، د رياست د عوايدو په راټولو او لګښت کې د روڼتيا نشتوالی، په ګوته کوي.

ددې ترڅنګ اقتصاد پوهان په دې باور دي چې په پرنسيب کې دغه اداره بايد له خصوصي سکټور سره په رقابت کې خلکو ته خدمتونه وړاندې کړي، خو کله چې دغه اداره هم رقابت کوي او هم د خصوصي سکټور پر خدمتونو څارنيز رول لري، دا کار په حقيقت کې د ګټو يو ډول ټکر رامنځته کوي چې د بازار اقتصاد د ارزښتونو خلاف بلل کيږي. بله دا چې نوموړې اداره د پلان شوي اقتصاد د اصولو پر بنسټ رامنځته شويده او تر دې مهاله پکښې کوم ځانګړی بدلون ندی راغلی، خو د نوي حکومت له راتګ سره د هيواد اقتصادي سيستم د پلان شوي اقتصاد څخه د بازار اقتصاد ته بدلون موندلی نو ځکه نوموړې اداره له يو ډول بحران سره مخ ده.

پورته یادو ستونزو نوموړې اداره د فساد پر وړاندې زیانمنه کړې او د عوایدو د تالاترغه کیدو لامل ګرځیدلي دي، د بیلګې په توګه، نوموړې اداره د تیلو د پمپونو د عوایدو څخه 0.2 پول (افغانی) فی لیتر او د هیواد په پولو کې سوداګرو ته د خدمتونو د وړاندې کولو له درکه 1.78 سلنه مالیه راټولوي او د نوموړې اداري د مالوماتو پر بنسټ په ۱۳۹۴ کال کې هیواد ته 1.495291 ملیونه ټنه نفتي توکي او اوبلن ګاز وارد شویدي، چې هر ټن یې د مالیې وزارت د ډیټابیس له مخې ۸۰۰ امریکایي ډالره قیمت لري نو پدې حساب یادې اداري باید په ۱۳۹۴ کال کې 21.3 ملیونه ډالره راټول کړې وای خو په همدې کال کې د نوموړې تصدی عواید یوازې 3.368 ملیونه ډالره دي او د 17.76 ملیونو ډالرو درک مالوم ندی. د دغې اداري د نوي مسوول په وینا راټولې شوې پیسې یوازې د کاغذ پر مخ موجودې دي او دا مالومه نده چې یادې پیسې چیرته او په څه ډول مصرف شویدي.

په هغو مرکو کې چې د یادې اداري نوې رهبری د ارزوني له پلاوي سره کړې، په دغه اداره کې یې د پراخو اصلاحاتو د راوستلو د طرحې د چمتو کیدو خبره کړې، چې په ښکاره ډول ددغې طرح په پلي کیدو سره به یو شمیر هغه ستري ننګوني چې په دې رپوټ کې یادې شوي اوارې شي. که څه هم په بشپړه توګه ددغې اصلاحي طرحې پلي کول وخت ته اړتیا لري خو د دغو اصلاحاتو لومړنیو اقداماتو د عوایدو راټولولو باندې د پام وړ مثبته اغیزه کړې، هغه اسناد چې د دې اداري لخوا د څارنې او ارزونې کمیټې ته ورکړل شوي د دې ادعا پخلی کوي او په بندری خدماتو په عوایدو کې 300-1000 سلنه زیاتوالی ښیي . د دې څخه دا روښانه څرګندیږي چې د نوموړې تصدی پخوانیو چارواکو د دې اداري شاوخوا ۶ برابره عواید لوټل او په خپلو جیبونو کې یې اچول.

### 6.4.1. زیانمننه

په حکومت کې د نفتي توکو د مافیا رول او په ټولو باندې د قانون یو شان نه پلي کول د دې لامل ګرځیدلي چې هغو کسانو چې په ملیونونو ډالر یې لوټلي، د عدلي او قضایي تعقیب لاندې رانشي.

#### 6.4.1.1. سپارښتنه

د جمهوري ریاست د چارو اداره، د یوه حکومتي پلاوي سره په همغږی د تصدی د عوایدو راټولولو د بهیر څرنګوالی او د تصدی د پخوانیو چارواکو پواسطه د عوایدو څخه ناوړه ګټه اخیستنه تر هر اړخیزې څیړنې لاندې نیسي، او شکمن کسان د عدلي تعقیب په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني.

**ضرب الاجل:**۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰

### 6.4.2. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی په ریاست کې د فعالو اداري سیستمونو نشتوالی، په نوموړی تصدی کې د فساد لپاره موکه برابره کړیده.

#### 6.4.2.1. سپارښتنه

د سوداګری او صنایعو وزارت د تصدی ریاست په هر اړخیزه توګه ارزوي، مالي سیستمونه د عوایدو او مصارفو په ګډون په الکترونیکي وسایلو سمبالوي او په ټولیز ډول داسې میکانیزمونه رامنځته کوي چې د تصدی په مالي سیستمونو کې د روڼتیا او حساب ورکوني د رامنځته کیدو لامل وګرځي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د کب ۲۹

### 6.4.3. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د ریاست د لوازمو له کاره لویدل د دې لامل ګرځیدلي چې سوداګر د حق الخدمت د ورکولو سربیره، اړین خدمتونه تر لاسه نکړي.

#### 6.4.3.1. سپارښتنه

د پاتې کیدو په صورت کې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ ریاست خپل کاري وسایل نوي او د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې د سوداګرو باور تر لاسه کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د کب ۲۹

### 6.4.4. زیانمننه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ ریاست د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د پالیسۍ د ۳ او ۴ موادو پر خلاف د ټولو سوداګرو څخه یو شان حق الخدمت راټولوي.

#### 6.4.4.1. سپارښتنه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ ریاست د نفتو او ګازو د پالیسۍ سره سم د هغو سوداګرو څخه حق الخدمت تر لاسه کوي چې د خدمتونو څخه یې ګټه اخلي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 6.5. د کیفیت ازمایښت

انسا اداري ته د تیل/ګازو د سندونو له رسیدو څخه وروسته دغه اداره سندونه د کیفیت د کنترول په موخه د جیوکیم اداري ته استوي، جیوکیم ته د اسنادو د رسیدو وروسته یو څلور کسیز پلاوی د جیوکیم، تصدۍ، انسا او د سوداګر د استازي څخه جوړ او د نفتي توکو او اوبلن ګازو له ټانکرونو څخه د انسا د طرزالعمل مطابق نمونه اخلي.

سوداګر وایي چې د پلاوي د نمونې اخیستلو پړاو د فساد پر وړاندې زیانمن دی او معمولا نمونې په یوه بڼه نه راټولیږي، پلاوی کولای شي د سوداګر سره په جوړجاړی د هغو توکو څخه نمونه واخلي چې کومه ستونزه نلري. د یادولو وړ ده چې یو ټانکر درې جلا برخې لري او کولای شي درې ډوله تیل بار کړي. د دې تر څنګ سوداګر د تصدۍ د کارکوونکي د ګډون په اړه زیاتوي چې که چیرې د نمونې اخستلو په بهیر کې د فساد موکه برابره نه وي ، نو د پلاوي په ترکیب کې برخه نه اخلي.

په جیوکیم کې د کیفیت د ازمایښت څخه وروسته د ازمایښت پایله د انسا اداري ته لیږل کیږي.د جیوکم اداره له هر ټن تیلو څخه ۵ ډالره او له هر ټن اوبلن ګازو څخه ۴ ډالره اجوره اخلي، له دغې پیسو څخه ۹۰ سلنه جیوکم کمپنۍ ته او ۱۰ سلنه د دولت خزانې ته تحویلیږي. انسا اداره د جیوکیم څخه د پایلو د رپوټ د تر لاسه کولو وروسته سندونه بیرته د نفتي توکو او اوبلن ګازو بندري مدیریت ته لیږي او د نفتي توکو اداره پایلې رسما سرحدي ګمرک ته د ورستیو کړنو لپاره استوي.

د لابراتوار پایلې دوه احتماله لري: ۱) که چیرې د لابراتوار رپوټ د نفتي توکو د کیفیت تایید وکړي نو په دې صورت کې نفتي توکي د محصول لپاره ګمرک ته وریپژندل کیږي او سوداګرو ته اجازه ورکول کیږي چې هیواد ته یې دننه کړي. ۲) که چیرې د لابراتوار پایله منفي وي یعني د نفتي توکو کیفیت د منلو وړ نه وي په دې حالت څه کیږي؟ په دې اړه اوسنۍ پالیسي او پروسیجر حکم کوي چې نفتي توکي باید بیرته مسترد شي، او سوداګر حق نه لري چې بې کیفیته توکي د ګمرک له لارې بازار ته دننه کړي.

خو د انسا اداره وایي چې مسترد شوي توکي د مختلفو لارو د هیواد بازار ته لاره پیداکوي، دوی زیاتوي چې سوداګر هیواد ته د بې کیفیته تیلو د واردولو لپاره د لاندې لارو څخه کار اخلي:

1. د سیاسیونو او سیمه ایزو زورواکو د فشار د لارې چې د دې ډیرې بیلګې موجودې دي.
2. د بډو ورکولو له لارې.

3. د بې کنټروله پولو له لارې.
4. له سرحدي پولیسو سره د جوړجاړي او رسمي پولو څخه د قاچاق د لارې.

په بهیر کې بله ستونزه د جیوکیم د کارکونکو لخوا د توکو د کیفیت د ازمایښت په پروسه کې جعل او تزویر دي چې ډیری مرکه کونکي ترې سر ټکوي. د ارزوني پلاوي دغه ستونزه په کابل کې د جیوکیم کمپنۍ له چارواکو سره شریکه کړه، دوی وایي: " تر دې وړاندې هم د جیوکیم یو شمیر کارکونکي په درغلیو تورن شوي او دوی له دندو ګوښه کړي او که په راتلونکي کې هم له دا ډول پیښو سره مخ شي نو له دندې به یې ګوښه کړي. " خو ستونزه داده چې د جیوکیم تخنیکي کارکوونکي بهرنیان دي چې د درغلۍ په صورت کې کولای شي په یوه پلمه هیواد پریږدي.

بله موضوع د انسا اداري د کارکونکو د وړتیا وده او انسا اداري ته د جیوکیم کمپنۍ د کاري وسایلو لیږد دی چې د قرارداد پر بنسټ باید د قرارداد په پای کې ترسره شي، خو مرکه کونکي اندیښنه ښیي چې دا احتمال شته چې قرارداد پای ته ورسیږي او د انسا اداری د کارکونکو د وړتیا د ودې په برخه کې هیڅ اقدام ونشي.

بله هغه ستونزه چې مرکه کونکو ورته ګوته نیولې د لابراتوار د حق الاجورې لوړوالی دی، د جیوکیم کمپنۍ د یو ټن تیلو څخه ۵ او له یو ټن ګازو څخه ۴ ډالره اجوره تر لاسه کوي، چې د یادو پیسو ۹۰ سلنه د جیوکیم کمپنۍ او ۱۰ سلنه د دولت حساب ته تحویلیږي. خو سوداګر شکایت کوي چې د نوموړې کمپنې حق الاجوره د سیمې د نورو کمپینو په پرتله ډیره لوړه ده، دوی زیاتوي چې په روسیه کې د SGS کمپنۍ له یوه ټن تیلو څخه یوازې یو ډالر حق الاجوره اخلي. په قرارداد کې د حق الاجورې لوړ ټاکل کیدل او له دې پیسو څخه ډیره کمه برخه یې د دولت حساب ته تحویلول، په نوموړي قرارداد کې یو ډول بې پروایي یا جوړجاړی ښیي چې بار یې باید د افغانستان بې وزله خلک پورته کړي. خو د انسا چارواکي د هیواد امنیتي وضعیت ته په پام د بهرنیو متخصصینو ګمارنه په هیواد کې ګران او د کمپنۍ قیمت مناسب بولي.

په ټولیز ډول، مرکه کونکي د جیوکیم د کمپنۍ له اجرااتو څخه سر ټکوي او زیاتوي چې د نوموړې کمپنۍ د ازمایښتونو د کره والي د سپیناوي په موخه باید د کمپنۍ پواسطه یو څو ارزول شوي نمونې د هیواد څخه د باندې واستول شي، خو د انسا اداري چارواکي د جیوکیم کمپنۍ د کار د کیفیت څخه ډاډه دي او زیاتوي چې نوموړې کمپنۍ د اعتبار له پلوه په سیمه کې ځانګړی اعتبار لري او په کراتو د دې کمپنۍ پواسطه تر سره شوي لابراتواري ازمایښتونه د هیواد څخه د باندې ارزول شوي او سم بلل شویدي. دا پداسې حال کې ده چې د ولسي جرګې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د پلاوي غړي وایي چې د جیوکیم لابراتوارونه د یوې نمونې څو ډوله پایلې ښیي او دوی دا عملا د هیواد په بندرونو کې لیدلي.

په نوموړي بهیر کې بل پړاو په بازار کې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د کیفیت کنټرول دي، د انسا او تصدۍ ریاست یو له بل سره په همغږۍ د ګرځنده لابراتوار پواسطه په بازار کې د تیلو کیفیت کنټرولوه خو د وخت په تیریدو دغه بهیر پخ او په پای کې په ټپه ودرول شو، اوس اوس دواړو ادارو کې د نوي رئیسانو د ګمارل کیدو سره سم نوموړی بهیر بیا پیل شوی. خو د انسا اداره وایي چې په هیواد کې د دری زره تیلو پمپونو او بې شماره ناقانونه پلورنځیونو کنټرولول په موجوده وسایلو او انساني سرچینو شوني ندي. د A-92 او A-95 په نوم په هیوادوالو نور تیل پلورل کیږي ځکه نوموړي تیل هیواد ته نه واردیږي او سوداګر د دې لارې د هیوادوالو ډیرې پیسې لوټي. د انسا اداره زیاتوي چې دوی څو پلا دا غوښتنه وکړه چې د تیلو پمپونو ته باید د واردونکو شرکتونو په نوم جواز ورکړل شي خو تر اوسه چا پرې غوږ ونه ګراوه، د دوی په وینا دا کار کولای شي هیواد ته د بې کیفیته او قاچاقي تیلو له واردیدو څخه مخنیوی وکړي.

د نورم او ستندرد ملي اداره د وړو او مسلکي کارکونکو او اړینو سامان آلاتو د نشتوالي له امله لا تر اوسه پدې نده توانیدلې چې په بهیر کې ځلانده رول ولوبوي.

### 6.5.1. زیانمننه

د لابراتوار په پایلو کې په درغلي کوونکو او سوداګرو سره په جوړجاړي د غلطو نمونو اخیستونکو، باندې د قانون یو شان نه پلي کول په نوموړې اداره کې د فساد موکې او هیواد ته د بې کیفیته تیلو واردول زیات کړیدي.

#### 6.5.1.1. سپارښتنه

د انسا اداره په جعل او تزویر کې ښکیل کسان پیژني او د عدلي تعقیب په موخه يې قضايي ارګانونو ته معرفي کوي.

**ضرب الاجل:** په دوامداره توګه

### 6.5.2. زیانمننه

د جیوکیم د کمپنی پر اجراآتو د انسا د اداري د څارنیزو میکانیزمونو د کمزورۍ له امله، په نوموړې کمپنی د سوداګرو او ځايي چارواکو باور کم شویدی او د بهیر روڼتیا يې تر پوښتنې لاندې راوستې ده.

#### 6.5.2.1. سپارښتنه

د انسا اداره د جیوکیم د اجراآتو څخه د څارنې په موخه یو میکانیزم طرحه کوي او د جیوکیم پواسطه څو ازمایل شوې نمونې د لابراتوارونو د دقت د کچې د مالومولو په موخه د هیواده د باندې استوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰

### 6.5.3. زیانمننه

په هیواد کې د ۳۰۰۰ زیاتو تیلو پمپونو شتون د دې لامل ګرځیدلي چې د انسا اداره ونشي کولای د تیلو او ګازو د کیفیت څخه ځان ډاډه کړي.

#### 6.5.3.1. سپارښتنه

د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ ریاست د تیلو او ګازو پلورونکو ته د واردونکو شرکتونو د سیورې لاندې جواز ورکوي چې دا کار به د کیفیت کنترول د انسا اداري ته اسانه کړي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۶ کال د کب ۲۹

### 6.5.4. زیانمننه

د تیلو پمپ ستیشنونه او پرچون پلورونکي د سوپر تیلو تر نامه لاندې بې کیفیته تیل پلوري.

#### 6.5.4.1. سپارښتنه

د نورم او ستندرد ملي اداره ګرځنده لابراتوار فعالوي او د ملي امنیت او حقوقي ادارو پر مټ، سرغړونکي تر عدلي تعقیب لاندې نیسي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰

## 6.6. د ګمرکي محصول اخیستل

ګمرک ته د لابراتوار د پایلو د رپوټ تر رسیدو وروسته، ګمرک پایلي ارزوي او د مثبتوالي په صورت کې د نفتي توکو څخه د لیتر پر سر ۲ افغانۍ د سرکونو د ساتنې تر عنوان لاندې راټولوي او د ټولګټو وزارت مالي حساب کې يې جمع کوي. د ګمرک د محصول له ورکولو وروسته سوداګر کولای شي خپل توکي له ګمرک څخه وباسي.

د مرکه کونکو د وینا پر بنسټ، سوداګر د توکو د رانیولو اسناد ( CMR, Consignment) د ځانه جوړوي، د همدې امله د مالیې وزارت نوموړي اسناد له اعتباره غورځولي او د توکو د محصول په موخه يې په ډیټابیس کې ثابت نرخونه ټاکلي دي. په ۱۳۹۴ کال کې په ډیټابیس کې د نفتي توکو د یوه ټن بیه ۸۰۰ امریکایي ډالر او د یوه ټن اوبلنو ګازو بیه ۴۰۰ ډالر ټاکل شوې وه. که څه هم دا له مالیاتو څخه د تښتې د مخنیوي لپاره یو مهم ګام دی خو د بازار له قیمت سره

زیات توپیر د دې لامل ګرځېدلی چې سوداګر د مالیاتو څخه د تیښتې لارې چارې ولټوي، د یادولو وړ ده چې په همدې کال کې په نړیوال بازار کې د نفتي توکو بیه د ۲۷۰-۳۰۰ او د اوبلنو ګازو بیه د ۱۵۰-۲۰۰ ډالرو پورې وه. د نفتي توکو او اوبلن ګازو ټکس ۱۲ سلنه او قیمت یې هم د بازار له واقعي قیمت څخه شاوخوا ۲۶۰ سلنه ډیر دی، نو په حقیقت کې سوداګر د نفتي توکو د پیر د بیې ٪۳۰ محصول ورکوي.

یو شمیر سوداګر پدې باور دي چې د مالیې وزارت دغه ډول چلند او پالیسی، هیواد ته د قاچاقو د زیاتیدو لامل ګرځي. د حیرتانو او آقنې له ګمرکونو څخه د ارزونې د پلاوي لیدنه د دې ادعا پخلی کوي، ځکه اوسمهال د دغو دوو ګمرکونو څخه ډیر لږ مقدار سوداګریز تیل هیواد ته واردیږي. د هیواد په لویدیځ په ځانګړي ډول فراه او نیمروز کې د غیرقانوني لارو د شتون له امله ډیرو سوداګرو هغې خواته مخه کړیده او دې کار د هیواد په شمال کې د نفتو سوداګر اندیښمن کړیدي.

د سوداګرو په باور د ګمرکونو د قانون د ۲۳ مادې او ۲ فقرې پر بنسټ د مالیې وزارت ته د ګمرکي تعرفو د تصویب صلاحیت ورکول د ګټو تضاد رامنځته کړی، ځکه نوموړی وزارت د تعرفو د عوایدو د راټولولو دنده هم لري او مالیې موخو ته د رسیدلو لپاره هر څومره چې یې زړه وغواړي د تعرفې قیمت لوړوي.

### 6.6.1. زیانمننه

د تعرفو د قیمت لوړول په بازار کې د قاچاقي او بې کیفیته تیلو د زیاتیدو او په ګمرک کې د اداري فساد د رامنځته کیدو لامل ګرځېدلی.

#### 6.6.1.1. سپارښتنه

د مالیې وزارت خپل د بیې اینودنې طرزالعمل د بیې اینودنې د لومړي میتود( د توکو د پیرلو سند ته اعتبار ورکول) پر بنسټ عیاروي او د تصدۍ د ریاست او صادرونکي هیواد په همکارۍ د د پیرلو د سند د کره والي څخه ځان داډه کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

### 6.6.2 د هیواد له پولو څخه د نفتي توکو قاچاق:

شاوخوا ټول مرکه کونکې پدې باور دي چې هر کال په یو زیات مقدار کې نفتي توکې هیواد ته د قاچاق په توګه واردیږي، خو دا چې قاچاق څه ډول صورت نیسي مختلف نظریات موجود دي، یو شمیر پدې باور دي چې قاچاق په لاندې دوو لارو صورت نیسي:

1. د قاچاقي لارو څخه د بیلګې په توګه افغانستان له ایران سره شاوخوا ۳۵ قاچاقي لارې لري.
2. د ګمرک د مامورینو سره په جوړښت د رسمي بندرونو د لارې.

په ۱۳۹۴ کال کې د نورم او ستندرد ملي اداری یو لوړ پوړی پلاوی په فراه ولایت کې د میل ۷۸ د ګمرک په ګاونډ کې پروت ایراني ګمرک ته سفر کړی ؤ، د نوموړي ګمرک څخه د پلاوي تر لاسه شوي شمیرې ښیي چې یوازې په ۱۳۹۴ کال کې نوموړي ګمرک د میل ۷۸ د ګمرک څخه ۸۴۰۰۰ ټنه زیات تیل ثبت کړي ؤ. لدې څخه په روښانه څرګندیږي چې یوازې له یوه ګمرک څخه ۸۴۰۰۰ ټنه نفتي توکې مامورینو سره د جوړښت او بډو ورکولو د لارې هیواد ته قاچاق شویدي، دا چې له نورو پولو څخه په کومه کچه قاچاق کیږي مالومه نده. د انسا اداری چارواکې زیاتوي چې نوموړې اداری په ۱۳۹۴ کال کې ۱۵۵۸۰ ټنه بې کیفیته نفتي توکې بیرته مسترد کړیدي خو کله یې چې د ایران د ګمرک څخه پدې هکله پوښتلي، هغوی ورته په ځواب کې ویلي چې ایران ته یو لیتر بې کیفیته تیل هم ندي ورغلي.

د پروسیجر سره سم کله چې هیواد ته نفتي توکې وارد شي لمړی د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ د ریاست په اړوند ځانګه کې ثبتیږي او بیا ګمرک ته راځي او هلته محصول کیږي. خو د دغو دواړو ادارو څخه تر لاسه شوي ارقام یو د بل

سره ډیر توپیر لري، د بیلګي په توګه د تصدئ ارقام ښیئ چي په ۱۳۹۴ کال کي 1.495291 ملیونه ټنه سوداګریز نفتي توکي هیواد ته وارد شویدي، پداسي حال کي چي د ګمرکونو د معینیت څخه تر لاسه شوي ارقام ښیي چي په همدي کال کي یوازي 0.758192 ملیونه ټنه سوداګریز نفتي توکي ( پترول، دیزل، د طیارو تیل) وارد شویدي. دا پدي معنی دي چي 0.737099 ملیونه ټنه نفتي توکي چي د مجموعي مقدار 49.3 سلنه کیږي هیواد ته وارد شویدي او د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدئ سره ثبت دي، خو بې لدې چي ګمرکي محصول تحویل کړي هیواد ته داخل شویدي. دا په ګمرکونو کي د پراخه فساد شتون ښیي. څرنګه چي په ۱۳۹۴ کال کي د یوه ټن نفتي توکو قیمت په ډیتابیس کي ۸۰۰ ډالره ثبت او د مجموعي قیمت ۱۲٪ ګمرکي محصول اخستل کیده، پدي حساب په ۱۳۹۴ کال کي په ګمرکونو کي 70.76 ملیونه ډالره لوټل شویدي.




همدارنګه د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدئ څخه رارسیدلي ارقام ښیي چي نوموړي تصدئ په ۱۳۹۴ کال کي 0.517694 ملیونه ټنه اوبلن ګاز ثبت کړي، پداسي حال کي چي د ګمرکونو د معینیت څخه رارسیدلي ارقام ښیي چي په همدي کال کي د هیواد ګمرکونو 0.568394 ملیونه ټنه ګاز محصول کړیدي. د ګمرکونو او تصدئ د ارقامو توپیر 50700 ټنه دی. پدې معنی چي د تصدئ کارکونکو سوداګرو سره په جوړښت یاد مقدار اوبلن ګازو ته بي له دې چي ثبت شي اجازه ورکړي ده، او تصدئ لدې درکه 360984 امریکایي ډالره زیانمنه شویده.

د پلاوي ارزوني او تحلیل دا ښیي چي په تولیزه توګه هیواد ته د توکو قاچاق په لاندنیو دریو عواملو پوري تړلی دی:

1. د هیواد په ګمرکونو کي د سکنر په ګډون د لازمو وسایلو نشتوالی
2. په ګمرکونو کي د موظفو بیلابیلو ادارو د کارکوونکو په کړنو د کافي کنترول او څارني نشتوالی
3. د افغانستان او ګاونډیو هیوادونو د ګمرکونو ترمنځ د مالوماتو د راکړي ورکړي لپاره د الکترنیکي معیاري سیستم نشتوالی

په تولیزه توګه هیواد ته د نفتي توکو قاچاق په یوه ناورین بدل شویدي چي له یوه پلوه یي دولت د محصول له درکه زیانمن کړیدی او له بله پلوه د هوا د ککړتیا او د موټرو د خرابیدو لامل ګرځیدلي دي.

### 6.6.2.1. زیانمننه

په ګمرکونو کي د کنترول او حساب ورکوني د میکانیزمونو د نشتوالي له کبله نفتي توکي هیواد ته د قاچاق په بڼه واردیږي.

#### 6.6.2.1.1. سپارښتنه

د ولس مشرۍ ماڼۍ د چارو اداره د ګمرکونو د محصول غونډولو بهیراو د ناوړه ګټې اخیستنې موارد ارزوي، تورن کسان پیداکوي او دعدلیي تعقیب په موخه یې عدلیي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني.

**ضرب الاجل**: ۱۳۹۵ کال د وري ۳۰

### 6.6.3 هیواد ته د محصول څخه معافو نفتي توکو واردول[1]

د ګمرکاتو قانون د دریمي مادې ۲۹ فقرې ګمرکي محصول داسې تعریف کړی"ګمرکي محصول له هغه مبلغ څخه عبارت دی چې په صادارتو او وارداتو باندې په ګمرکي تعرفه کې د درج شوې طبقه بندۍ او اندازو سره سم وضع کیږي." نو لدې امله هر حقیقي او حکمي شخص چې افغانستان ته اجناس واردوي د مالیې په ورکړه مکلف دی مګر د هغه دوه اړخیزه تړون (BSA) له مخې چې د افغانستان دولت له نړیوالو نظامي قواو سره لاسلیک کړی، د افغانستان دولت د نړیوالو نظامي قواو ټولو وارداتي اجناسو باندې مالیه نه اخلي او له ګمرکي محصولاتو څخه معاف دي. له دې سره د افغانستان دولت د ټولو هغو وارداتي اجناسو څخه هم مالیه نه اخلي چې د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو مربوط وي

افغانستان کې متعدد سوداګریز شرکتونه شته چې نړیوالو قواو او د هیواد امنیتي ځواکونو ته نفتي مواد چمتو کوي. ددې شرکتونو شمیر هر کال فرق کوي او په ۱۳۹۴ کال کې د تیلو د تورید معافي شرکتونو شمیر ۲۰ ته رسیده.

د معافي تیلو د تورید پروسه داسې ده چې، لومړی نړیوال نظامي قوتونه لکه قاطع حمایت لاندې اسناد د مراحلو طی کولو په موخه د بهرنیو چارو وزارت ته استوي:

1- د تدارکاتو مسؤل د لاسلیک او مهر سره رسمي مکتوب
2- د افغانستان دولت سره د امنیتي موافقتنامې کاپي
3- د تیلو واردونکي شرکت سره د تړلي قرارداد کاپي

نړیوال نظامي قوتونه پورته درې ډوله اسناد د بهرنیو چارو وزارت ته استوي او د قراردادي شرکت له لارې د تیلو تورید (مثلا ۱۰۰۰۰ ټنه) غوښتنه کوي. د بهرنیو چارو وزارت هم د قاطع حمایت رسمي مکتوب د مالیې وزارت د ګمرکونو معینیت ته استوي او د ګمرکونو معینیت تخنیکي ریاست ورته معافیتي فورمه چمتو کوي او ټولې توریدي ځانګړتیاوې، د اړتیا مقدار تیل په کې لیکي او د مهر کولو او لاسلیک کولو وروسته یې بیرته د بهرنیو چارو وزارت ته استوي. د بهرنیو چارو وزارت دغه فورمه تصدیقوي او بیرته یې د ګمرکاتو معینیت ته استوي. د ګمرکونو معینیت تخنیکي ریاست له ثبت او راجستر کولو وروسته دغه فورمه توریدي شرکت ته ورکوي او توریدی شرکت د اړتیا مقدار تیل د پولو له لارې افغانستان ته واردوي او د ټولو ګمرکي ورکړو او پروسیجرونو څخه معاف وي. آن تر دې چې انسا اداره ته هم ددې اجازه نه ورکول کیږي چې د نړیوالو نظامي ځواکونو معافي توریدي تیلو کیفیت لابراتوار او و ازموي. سربیره پر دې چې په دوه اړخیز امنیتي تړون کې د مجازو توکو نوم ذکر شویدی خو یو شمیر کمپنیو د بیلګې په توګه سوپریم به د ګمرک مامورینو ته اجازه نه ورکوله چې واردشوي توکي و ارزوي، او د مجازو توکو سره به یې منعه شوي توکي هیواد ته واردول او د هیواد په بازارونو کې یې خرڅول.

د ګمرکونو معینیت د ناوړه استفادو د مخنیوي په موخه د معافیت فورمه سکن کوي او سرحدي ګمرکونو ته یې استوي ترڅو سرحدي ګمرکونه اصلي فورمې ته له سکن شوې فورمې سره مطابقت ورکړي. سرحدي ګمرکونه په دې اړه ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې آیا تیل غوښتنه کونکي مرجع ته رسیدلي که نه، له غوښتنه کونکي مرجع څخه د رسمي رسید مطالبه کوي. د مالیې وزارت پدې برخه کې د دفاع وزارت له نه همکارۍ څخه سر ټکوي او زیاتوي چې د دفاع وزارت د تیلو د رسیدو د تایید پاڼه په وخت نه استوي، دا پداسې حال کې ده چې د څارنې او ارزونې کمیټې هم زیات کوښښ وکړ چې د دفاع وزارت څخه د ۱۳۹۴ کال کې د وارد شوو تیلو په اړه مالومات تر لاسه کړي خو یاد وزارت پدې اړه د کمیټې سره همکاري ونه کړه.

---

[1] د افغانستان په ګمرکونو کې مالیاتي معافیتونه د وزیرانو شورا د ۱۳۹۴ کال د وري ۲ نیټې د ۴ ګڼه مصوبې له مخې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو، افغانستان لپاره د امنیت د لیږد ګډه قوماندانې، د امریکا نظامي قوتونو او NATO ته د مالیې وزارت له خوا مصوبې پر بنسټ تصویب شوي.

د نفتي توکو او اوبلن ګازو د تصدی د رالیرلو مالوماتو پر بنسټ په ۱۳۹۴ کال کي افغانستان ته 0.378989 ملیونه ټنه د محصول څخه معاف نفتي توکي وارد شویدي. د څارني او ارزوني کمیټي د زیاتو کوښښونو سره سره، د ګمرکاتو معینیت حاضر نشو چي په ۱۳۹۴ کال کي د وارد شوو معافي تیلو په هکله کمیټي ته مالومات راواستوي. د پورته یاد شوي رقم په حساب افغانستان په همدي کال کي د محصول څخه د معافو تیلو له درکه 36.38 ملیونه ډالره زیانمن شویدی.

د لا زیاتي روښانتیا په موخه د محصول څخه معافو نفتي توکو د واردولو پروسیجر په لاندې جدول کي خلاصه کوو:[1]

| ګڼه | د معافي نفتي موادو او ګازو د تورید پروسه[2] | مسئوله مرجع |
|---|---|---|
| 1 | د بهرنیو چارو وزارت ته د تهیي او تدارکاتو مسؤل شخص لاسلیک او مهر سره رسمي مکتوب | غوښتنه کونکي مراجع ( US Army -ISAF) رسمي مکتوب د افغانستان حکومت سره تړلي قرارداد کاپي او د تیلو توریدی شرکت سره د قرارداد کاپي سره یوځای د بهرنیو چارو وزارت ته استوي او د خپلي اړتیا مقدار تیلو غوښتنه کوي. |
| 2 | د ګمرکونو معینیت ته د معافی مکتوب استول | د کورنیو چارو وزارت د ضروري اسنادو تایدولو وروسته د ګمرکونو معینیت ته رسمي مکتوب استوي. |
| 3 | د معافي فورمي چمتو کول | معافي فورمه د بهرنیو چارو وزارت له خوا تایید شویو اسنادو په لیدلو او غوښتل شوو نفتي توکو مقدار ته په پام چمتو کیږي او لاسلیک کولو او مهر کولو لپاره د بهرنیو چارو وزارت ته لیږل کیږي. |
| 4 | د معافي فورمي تاییدي | د بهرنیو چارو وزارت له خوا د معافي فورمي تائیدولو وروسته معافي فورمه بیرته د ګمرکونو معینیت ته لیږل کیږي. |
| 5 | سرحدي ګمرکونو ته د معافي فورمي لیږل | د بهرنیو چارو وزارت له خوا د معافي فورمي تاییدیدو وروسته د بریښنالیک له لارې سرحدي ګمرک ته لیږل کیږي او اصلي فورمه یې د تیلو توریدي شرکت استازي ته ورکول کیږي. |
| 6 | د معافي تیلو تورید | د شرکت استازی د معافي فورمي په کتلو سره تیل ګمرک ته واردوي او له ټولو ګمرکي محصولاتو څخه معاف وي. |

**د اداري فساد پر وړاندې د بهیر زیانمنني:**

د آقینه، حیرتان او تورغندي بندرونو له لارې د نفتي موادو او ګازو واردونکي سوداګر، او نفتي موادو او مایع ګازو د تورید په پروسه کي ښکیلو ادارو یو شمیر مسؤلین په دې ټینګار کوي چي په د مالیاتي معافیتونو فورمو کي درغلي کیږي او هغه شرکتونو چي د معافي تیلو د تورید حق لري معافي فورمي پلوري او د تیلو د تورید نور شرکتونه دغه فورمي پیري او تیل له ګمرکي محصول پرته افغانستان ته واردوي. دغه موضوع ددې سبب شوه چي د نفتي موادو او مایع ګاز سوداګر له دوي سره سیالي نشي کولی چي تقریبا د رکود او دیوالي کیدو په حالت کي دي. سربیره پردې لکه څنګه چي نفتي مواد او مایع ګاز د نړیوالو قواو په نامه واردیږي، د لابراتوار او ازموینې څخه هم معاف کیږي.د سوداګرو او په پروسه کي یو شمیر ښکیلو ادارو په باور، هغه نفتي مواد چي د خارجي قواو په نامه له ټولو ورکړو معاف د هیواد بازار ته واردیږي له هغو با کیفیته مواد سره بدلیږي چي په رسمي توګه د سوداګرو له خوا د ګمرکي مراحلو طی کولو وروسته واردیږي. باکیفیته مواد نړیوالو ځواکونه ته ورکول کیږي او بې کیفیته مواد چي د هغوی په نامه واردیږي بازار ته وړاندې کیږي. ددې ادعا د ثبوت یا رد په اړه هیئت په دې ندې توانیدلی چي اسناد په لاس راوړي.

11

[2] د دولتي او نړیوالو نهادونو د معافي تیلو د اسنادو طی مراحل کولو ترمنځ توپیر دا دی چي د دولتي نهادونو اسناد بهرنیو چارو وزارت ته نه لیږل کیږي مګر نور ټول پړاونه طی کوي.

په ټولیزه توګه د انسا اداره د معافیت په بحث کې دوه موارده فساد لپاره زیانمونکي ګڼي: لومړی د معافي تیلو مقدار: د هغوي په باور، د نړیوالو ځواکونو په ګډون د نظامي قوتونو ددې مقدار تیلو لګښت ته کوم ډول ارزوني ته اړتیا ده؟ دویم داچې ددې تیلو د تورید مکانیزم او زیرمو کې د هغوي خالي کول هم د بحث وړ ده. هغوي په دې باور دي چې د کیفیت د کنټرول او لابراتوار معافیت څخه په استفادې سره کورني پیمان کاران بازار ته بې کیفیته تیل واردوي او په بدل کې یې تجارتي تیل چې کیفیت یې کنټرول کیږي نړیوالو ځواکونو ته سپارل کیږي. په ټولیزه توګه د معافي تیلو د تورید پروسې، په ځانګړې توګه کله یې چې کیفیت نه کنټرولیږي، سوداګرو ته د بې کیفیته تیلو واردولو لپاره زیاته زمینه برابره کړې.

د ارزونې هیئت یواځې د سوداګرو او یو شمیر ښکیلو ادارو په ویناو بسنه ونه کړه او خپلو څیړنو او پلټنو ته یې دوام ورکړ ځکه چې د معافیت فورمې چمتو کول یو پیچلې پړاو دی او د هغې طی مراحل کول د درې معتبرو ادارو له لارې صورت مومي یعني د جعل او بازار کې د پلور احتمال یې ډیر ناشونی دی. په دې اړه یو شمیر سوداګر داسې وایي "د ګمرکونو معینیت د نفتي موادو او مایع ګاز د تصدی له عمومي ریاست سره په جوړجاړي کې( ځکه چې دا دواړه د مالوماتو د ثبت په پروسه کې کلیدي اداري دي) کولی شي چې په فورمه کې درغلي وکړي او و یې پلوري او آن تر دې چې ارقام یې هم په ډیټابیس کې ثبت نه کړي."

په مرکز او و لایتونو کې د هیئت په واسطه د ګمرک له ډیټابیس څخه مشاهدې دا څرګندوي چې هغه څه چې په دې نهاد کې د ډیټابیس په نامه نومول شوي یواځې په اکسل کې عیار شوي جدولونه دي چې مالومات او ارقام یې هره لحظه د لاسوهنې وړ دي. د هیئت له خوا په یادو دوه نهادونو کې د ثبت او راجستر په اړه دغه ادعاوې لږ ترلږه کولی شي چې د لاس وهنې او مهندسی په وړاندې د ډیټابیس او ثبت او راجستر د بنې په زیانمنني باندې حکم وکړي. سربیره پردې، هیئت د کار پیل راهیسې تر ۱۸ جولای ۲۰۱۶ پورې چې نژدې ۶ میاشتې یې په بر کې نیولې له دغو دوه نهادونو سره په اړیکه کې دی ترڅو وکړای شي چې په دې اړه د دواړو نهادونو دقیق ارقام راټول او تحلیل کړي او توپیرونه یې په رپوټ کې درج کړي. مګر هغه څه چې د ګمرکونو معینیت له خوا یې بهانه وشوه د وزارت په مرکز کې د ۱۳۹۴ کال په جریان کې وارد شویو نفتي موادو د ډیټابیس د مالوماتو نه بشپړیدل وو. دغه امر په ښکاره توګه د ګمرکونو معینیت د راجستریشن سیستم د زیانمنیدل په ډاګه کوي.

په بازار کې د معافي تیلو پلورلو له شواهدو څخه یو یې هم په بازار کې د پریمانه TC-1 تیلو شتون دی. دا په داسې حال کې ده چې کله چیرې د ګمرکونو معینیت او نفتي موادو ریاست د ثبت او راجستر اسنادو ته مراجعه وشي، د وارد شویو TC-1 تیلو رسمي رقم د ۱۳۹۴ کال لومړیو ۹ میاشتو کې۲۷۳۰۷ مقدار TC-1 تیل رسماً تورید او ګمرکي طی مراحل شوي. په داسې حال کې چې د ملکي هوانوردی ټول شرکتونه چې په افغانستان کې فعالیت کوي دغو تیلو ته ا ړتیا لري او روزانه ډیر مقدار TC-1 تیلو ته اړتیا ده چې د داوي آیل په څیر او نورو شرکتونو له لارې په هغوي پلورل کیږي.

یوه بله احتمالي بڼه چې د مصاحبه ورکوونکو له خوا مطرح شوې، بازار ته د معافي تیلو وړاندې کولو کې د ځایي امنیتي مقاماتو لاس درلودل دي. د قولي اردو قوماندانان او د امنیې قوماندانان د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو څخه د خپلې اړتیا څو برابره زیاتو تیلو غوښتنه کوي او هغه بیا په شخصي ټانکونو کې ذخیره کوي، څومره ته چې اړتیا لري مصرفوي یې او پاتې نور یې ټانکونه په بازار کې په خلکو باندې پلوري. په دې اړه یوه قصه د قندهار د امنیې قوماندان ده چې یو سوداګر داسې وایي "د قندهار امنیې قوماندان څخه پوښتنه وشوه چې ددې ولایت په امنیې قوماندانی کې د څومره مقدار تیلو لپاره ذخیره وجود لري؟ نوموړي په ځواب کې وویل چې هغوي له ۲۰ ټنو زیات ذخیره کولی نه شي او ډیر تیل په ټانکونو کې تخلیه کوي او د اړتیا په صورت کې د امنیې قوماندانی د پرزې له مخې توزیع کیږي." اوس که ددې موضوع بیلابیل اړخونه تر تحلیل لاندې ونیول شي، لدې پرته چې ددې تیلو څخه څومره یې سم مصرفیږي او څومره یې اخوا دیخوا کیږي، معافي تیل بالاخره په بازار کې پلورل کیږي او دا یو حقیقت دی نه ادعا. په هغه غونډه کې چې د څارنې او ارزونې کمیټې یوه غړي د نړیوالو ځواکونو سره درلوده، دوی هم دا ستونزه ومنله او زیاته یې کړه چې دوی د پروسیجر د بدلولو په هکله غور کوي او د نوي پروسیجر تطبیقولو ته یې چمتووالی وښود.

که چیرې دغه بحث جمع بندي کړو پایله به یې دا وي چې د معافي نفتي موادو د تورید بهیر سربیره پردې چې د بیلابیلو دلایلو لکه امنیتي مسائل شفاف نه دي، په پروسه کې جدي زیانمنني د هغوي له جملې د ګمرکونو په معینیت کې د ثبت او

راجستر قدمه، د مصرفونکو نهادونو په داخل کې د اړتیا تثبیت (د ضرورت مقدار)، او د کیفیت ازمایښې پروسې څخه د هغې د یوې برخې معافیت، وجود لري. چې د هغوي اداري طی مراحل بدلون ته اړتیا لري.

### 6.6.3.1. زیانمننه

د محصول څخه د ملي او نړیوالو ځواکونو د نفتي توکو او اوبلنو ګازو معافي د ناوړې ګټې اخیستنې او د محصول څخه د تیښتې موکه برابره کړېده.

#### 6.6.3.1.1. سپارښتنه

د بهرنیو چارو وزارت، مالیې وزارت،نړیوال ځواکونه، کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت یو هوکړه لیک لاسلیکوي چې له مخې به یې د مالیې وزارت د محصول څخه د ټولو معافو توکو څخه مالیه اخلې او وروسته به یې د اړوند ارګان بانکي حساب ته انتقالوي. او همدارنګه پدې هم باید موافقه وشي چې هیواد ته ټول واردیدونکي توکي تر ارزونې لاندې نیول کیږي تر څو د منعه شوو توکو د واردولو څخه مخنیوی وشي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 6.6.4 د نفتي توکو د واردولو په بهیر کې د مافیا رول

د مافیا څخه موخه هغه زورواکي دي چې په حکومت کې د سترې ونډې سربیره په خصوصي سکتور کې هم رول لري. مرکه کونکي پدې باور دي چې دوی په ولسي جرګه او حکومت کې له خپل نفوذ او وظیفوي صلاحیت نه په استفادې، د پالیسیو حتی د قوانینو د بدلون یا لږ تر لږه د ځنډولو وړتیا لري او د دې لارې خپلې ګټې خوندي کوي.

مرکه کونکي زیاتوي چې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو مافیا هغه کسان دي چې هیواد ته د قاچاقي توکو د واردولو، د کیفیت د کنترول، تلو، معافي فورمونو د جعل او تزویر او فوق العاده امرونو د تر لاسه کولو وړتیا لري او د دې لارې دوی په زرګونو ټنه بې کیفیته نفتي توکي هیواد ته واردوی او په تر لاسه شوو پیسو د خپلو کړیو د لا غښتلتیا لپاره کار کوي. د نفتي توکو او اوبلنو ګازو ډیری شرکتونه د دوی د ملاتړ څخه برخمن دي.

یو شمیر سوداګر د نفتي توکو او اوبلنو ګازو مافیا د شمال او لویدیځ په دوو سترو برخو ویشي او زیاتوي چې مافیا د خپل نفوذ د ساحې څخه ګټه پورته کوي. د دوی په باور د هیواد په شمال او لویدیځ کې یو شمیر زورواکي چې په حکومت کې ستره ونډه لري، د قاچاق د موکو څخه په ګټه پورته کونه په زرهاو ټنه بې کیفیته نفتي توکي، دګمرک د مصول پرته هیواد ته واردوي.

ډیری مرکه کونکي د وزیرانو د شورا لنډمهاله پریکړو ته په اشاره دا زیاتوي چې د وزیرانو د شورا د قوانینو خلاف مصوبې او د ملي ګټو پر وړاندې پریکړې دا څرګندوي چې د وزیرانو د شورا د پریکړو د نیولو په بهیر کې نوموړې مافیا نفوذ کړیدی. دوی د دې بیلګه د ۱۳۹۲ کال د کب د ۵ نیټې ۴۵ ګڼه مصوبه او د ۱۳۹۳ کال د غبرګولي د ۴ نیټې ۹ ګڼه مصوبه بیانوي. د دوی په باور مافیا کړی د هیواد پیژندل شوي څیرې دي چې پر وړاندې یې اقدام د حکومت لپاره ستونزمن او لوی ازمیښت دی.

### 6.6.4.1. زیانمننه

په بهیر کې د مافیايي کړیو شتون د دې لامل ګرځیدلي چې په زرهاو ټنه بې کیفیته نفتي توکي په قاچاقي ډول هیواد ته وارد او د ګمرکونو عوایدو ته زیان ورسوي.

#### 6.6.4.1.1. سپارښتنه

لویه څارنوالی د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د عدلي مرکز له لارې نوموړې حلقې تشخیص او د عدلي تعقیب لاندې نیسي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰

## 6.7. د فواید عامې وزارت له تلې څخه تیریدل

د فواید عامې وزارت تله معمولاً د پولې د صفرې نقطې په پیل کې ځای لرې. محمولې باید په راننوتلو سره سم د تلې دپاسه تیرې شي. د ټولګټو وزارت نمایندګۍ د نفتي موادو او مایع ګازو محمولې تلې او د قانون له مخې د ټانکو د وزن په تللو ۱۰۰ افغانۍ اخلي. په دې اړه هم د ټولګټو وزارت د تلې د مامورینو د اجراآتو په اړه شکایتونه شته. د ټانکرونو چلونکې د ټولګټو وزارت مامورینو ته په دې د تیلو کې د تیلو هر ټانکر په سر د ۱۵۰۰ افغانۍ ورکولو خبر ورکوي. په دې اړه موظف هیئت یو استعلام رسماً د ټولګټو وزارت ته واستوه چې د هغې په ځواب کې د ټولګټو وزارت د ۱۵۰۰ افغانیو اخستنه په رسمي توګه د وزارت له خوا رد کړه.سربیره پردې، مصاحبه کوونکې باور لرې چې د ټولګټو وزارت د تلو مامورین د بډو اخستنې په بدل کې د اضافي وزن لرونکو ټانکرونو ته اجازه ورکوي چې د هیواد د لویو لارو په سړکونو تیر شي. دغه قدمه هم د بیلابیلو اړخونو د فساد لپاره زیانمونکې ده: د تلې مامورینو پر اجراآتو کنټرل او څارنې له اړخه، سره لدې چې د ټولګټو وزارت د هیواد په لویو لارو کې ګرځنده تلې فعاله کړې، مګر دا یې ثابته نه کړه چې د سرحدي تلې څخه د تیریدو په وخت ولې هغو محمولو ته چې اضافي وزن لرې په لویو لارو د تیریدو اجازه ورکول کیږي. همدارنګه، د وزن یو معیاري سیستم نه درلودل چې کارکوونکو ته په وزن کې د تغییر اجازه ور نکړي هم کولی شي د درغلۍ په کمولو او محمولو ته اجازې ورکولو کې اغیزمن واقع شي.

### 6.7.1. زیانمننه

د زورواکو او چارواکو په لاس کې د فواید عامې وزارت د تلو لویدل د دې لامل ګرځیدلي چې د فواید عامه وزارت په خپلو تلو کنټرول ونلرې او د عوایدو یوه زیاته برخه له لاسه ورکړي.

#### 6.7.1.1. سپارښتنه

د فواید عامې وزارت د کورنیو چارو وزارت سره په همغږۍ د فواید عامې وزارت په تلو د زورواکو د تسلط مخنیوی کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

### 6.7.2. زیانمننه

د تلو د مامورینو او سوداګرو جوړجاړی او د فساد د موکو شتون د دې لامل ګرځیدلی چې مامورین وزن کم وښیي او د دولت د عوایدو د ضایعه کیدو لامل وګرځي.

#### 6.7.2.1. سپارښتنه

د فواید عامې وزارت د ملي امنیت په همکارۍ هغه مامورین چې وزن کم ښیي پیداکوي او د عدلي تعقیب په موخه یې عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰

### 6.7.3. زیانمننه

د معیارونو سره د تلو د نه برابرې او د وزن د درجه بندۍ د یو معیاري سیستم نشتوالی د دې لامل ګرځیدلي چې تلې د توکو حقیقي وزن ونه ښایي.

#### 6.7.3.1. سپارښتنه

د نورم او ستندرد ملي اداره د تلو د درجه بندۍ سیستم وسایل او تکنالوژي هیواد ته واردوي او د تلو د تنظیم څخه ځان ډاډه کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د کب ۲۹

## 6.8. د هیواد ښارونو ته د رسیدو په موخه د لویو لارو تیریدل

لویو لارو ته له داخلیدو وروسته د ټانکرونو چلونکي له یوې بلې ننګونې سره مخ کیږي چې هغه د لویو لارو پولیسو له شوکو څخه عبارت ده. د دې سربیره چې ډریورانو له پولیسو شکایت وکړ د ارزوني پلاوی هم د نوموړې ستونزې سره مخ شو. د بیلګې په توګه، د هیرتانو لوی لارې له مسیر څخه د ارزوني د هیئت موټر تیریده چې د لوی لارې پولیسو د نفتي موادوه محموله درولي وه او له هغه څخه یې د پیسو غوښتنه وکړه چې بالاخره یې یوه اندازه پیسې له کوم موجب پرته له هغه موټر چلونکي څخه واخستې. دا د هیئت د سترګو لیدو یواځنۍ قیصه نده، هیئت بالفعل د اسلام قلعه او هرات په لارو کې هم دا ډول پیښې لیدلي چې د موټرچلونکو د پیسلو ورکولو څخه انکار وکړ او د لوی لارې پولیسو له خوا د ډبولو او ټکولو لاندې راغلل. په یوه پیښه کې په همدې لاره کې پولیس د هیئت په مداخلې سره له یو ټانکر څخه د پیسو اخستلو له امله بندي شو. وروسته پولیس ادعا وکړه چې هغه ټانکر قاچاقي تیل وارد کړي مګر جالبه دا ده چې له موټروان څخه یې اسناد ونه غوښتل او پرته له کومې ستونزې یې هغه ته د تلو اجازه ورکړه.

### 6.8.1 زیانمننه

د لویو لارو په پولیسو د کنترول نشتوالی د دې لامل ګرځیدلی چې هغوی د د موټروانانو څخه پیسې واخلي.

#### 6.8.1.1 سپارښتنه

د کورنیو چارو وزارت د هغو پولیسو د پیژندنې او عدلي ارګانونو ته د ورپیژندنې په موخه چې له موټروانانو پیسې اخلي، استخباراتي ګروپونه رامنځته کوي او په منظمه توګه د لویو لارو په پوستو ګزمه کوي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 6.9. د ښاروالیو د تهجایې محصول

وروسته له هغې چې د نفتي موادو او مایع ګاز محمولې (ټانکرونه) ښارونو ته ورسیږي، باید ښاروالیو ته هم د تهجایې محصول ورکړي.د ۱۳۹۳ کال د ښاري خدمتونو د محصول قانون د دویمې ضمیمې له مخې، ښاروالی د هر ډول ښاري خدمتونو څخه چې دوي یې وړاندې کوي د تهجایې محصول راټولوي نو له دې امله د تیلو یا ګازو هر ټانکر چې ښار ته راننوځي، ښاروالي له هغه څخه ۳۰۰۰ افغانی مبلغ د تهجایې په نامه اخلي. د افغانستان بیلابیلو ښارونو کې د سوداګرو د ادعاو پر بنسټ، ښاروالی ددغو پیسو ترلاسه کولو پرمهال رسید نه ورکوي یعني هغوي دغه پیسې د ټانکرونو چلونکو ته پرته د کوم رسید ورکولو اخلي. حتی ځینې وختونه له ځینې ټانکرونو څخه کمې پیسې اخلي او یا هم له یو شمیر ټانکرونو څخه هیڅ پیسې نه اخلي ځکه چې ددغو ټانکرونو څښتن په ښاروالی کې واسطه لري یا دا چې د ښاروالی کارکوونکو سره د خپلوی، قومي او حزبي اړیکې لري.

## 6.10. د تیلو پمپونو باندې د تیلو ویشل

دا مرحله هم یو شمیر ننګونو سره مخ ده. ددې مرحلې له کلیدي ننګونو څخه یوه یې هم د توزیع سرچینو تشخیصول دي. په دې مانا چې د تیلو ټانک له کومه ځایه تیل پیري؟ مصاحبه ورکوونکې په دې باور دي چې له یو شمیر توریدونکو څخه چپ چې په قانوني توګه تیل واردوي او ټانکونه یې له هغوي څخه رانیسي، د نفتي موادو په ټانکونو کې د نفتي موادو د توزیع سرچینې غیر قانوني او بې کیفیته دي. د نفتی موادو د دغو سرچینو څخه د ټانکونو نفتي موادو عمده برخه قاچاقي

نفتي مواد تشکيلوي. سربيره پردې، مصاحبه ورکوونکي باور لري چې د ټانکونو د نفتي موادو عمده برخه له معافي تيلو څخه ده د هغې بڼه داسې تعريفوي: " معافي تيل د بازار په خصوصي ټانکونو کې له دوه لارو توزيع کيږي: ۱) تيل بدليږي يعني وارد شوي نفتي مواد ټانکونو ته توزيع کيږي او هغه نفتي مواد چې په اصولي توګه ګمرکي طی مراحل کيږي نړيوالو نظامي قواو ته توزيع کيږي. ۲) له لګښت څخه اضافه معافي تيل دي چې د ټانکونو څښتنانو سره د پردې ترشا معاملې کولو وروسته د ټانکونو په زيرمو کې زيرمه کيږي او د ضرورت له مخې تري يوه اندازه د دفاع او کورنيو چارو وزارتونو د قطعو له خوا مصرفيږي او پاتې نور يې د ټانکونو له خوا په بازار کې پلورل کيږي. "

سربيره پردې، هغه نفتي مواد چې د کورنيو چارو او دفاع وزارتونو د مؤظفينو له خوا بازار کې پلورل کيږي هم په بازار کې د تيلو توزيع سرچينو څخه يوه ده چې په بازار کې د نفتي موادو ډيرئ پرچون پلورونکي له دغې سرچينې استفاده کوي او غلا شوي نفتي مواد بازار ته وړاندې کوي.

### 6.10.1 زيانمننه

په بازار کې د نفتي توکو د خرڅولو په سرچينو د کنترول د يوه منظم سيستم نشتوالی د دې لامل ګرځيدلي چې قاچاقي او نور غير قانوني تيل د تيلو د پمپونو له بازار ته عرضه شي.

#### 6.10.1.1 سپارښتنه

په بازار کې د قاچاقي او نور غير قانوني نفتي توکو د عرضه کولو د مخنيوي په موخه د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدئ رياست يو ميکانيزم رامنځته کوي چې له مخې به يې په بازارونو کې د تيلو او ګازو ټولې ويشونکې سرچينې ثبت او وپيژندل شي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

## 6.11 قيمت ايښودنه او د بازار څخه څارنه

مرکه کونکي په دې باور دي چې د قيمت ايښودلو بهير کې کليدي ننګونه د بازار د انحصار او احتکار مسئله ده. سوداګر په ګډه تيل او ګاز زيرمه کوي او بازار ته يې د خرڅلاو لپاره نه وړاندې کوي او کله چې قيمت لوړ شي نو بيا هر سوداګر لږ لږ مواد عرضه کوي تر څو خلک پدې باور وکړي چې ربښتيا هم هيواد ته د تيلو واردول کم شوي ؤ. وروسته تر دې د نفتي توکو تصدئ صحنې ته را داخليږي او د څو اونيو کوښښونو وروسته د تيلو او ګازو بيه يوه يا دوه افغانی راټيټوي. دا عمل هر کال لږ تر لږه دوه ځلې او حتی تر درې يا څلور ځلې صورت نيسي. تير کال (۱۳۹۴) يې غوره بيلګه ده چې د دريمې ربع په وروستيو کې له يوې مياشتې څخه زياتې مودې لپاره يې دغه سناريو ولوبوله. جالبه دا ده چې د هغوي له دې فرصت څخه ګټې اخستنې وروسته د نفتي موادو او مايع ګاز د تصدئ عمومي رياست يو ځل اعلان کوي چې " د نفتي موادو له سوداګر سره له مذاکرو وروسته په پای کې سوداګر دا ومنله چې د نفتي موادو او مايع ګاز په بيه کې دوه افغانی کموالی راغلی. دا په داسې حال کې ده چې بيه ۸۰٪ لوړيږي او نزولي سير يې ډير سست دی چې په څو مياشتو کې ۳۰-۵۰٪ راټيټيږي چې بالاخره خلک دغه قيمت ته غاړه ږدي.

په بهير کې د حساسې دندې درلودلو له امله، د تيلو او ګازو مافيا د تصدئ په رياست کې نفوذ کړی. په نوموړي رياست کې د مافيايي کړيو شتون د دې لامل ګرځيدلي چې د نفتي موادو په تنظيم او کنترول کې ددې رياست نقش کم رنګه شي.او د دې پرځای چې دغه رياست د نفتي موادو او مايع ګاز د چارو په تنظيم کې کامياب نقش ولري، برعکس د صحنې ترشا د نفتي موادو او مايع ګاز د بيې لوړولو لپاره زمينه برابروي. ددې موضوع په اړه ددې تصدئ نوي مسؤلين وايي چې په تيرو وختو کې دغه پيښې رامنځته شوې وې او دوئ ته هم د ځينو سوداګرو لخوا د يو ليتر په سر د ۲ افغانيو وړانديز شويدی خو دوئ نه يوازې دا وړانديز رد کړی، په راتلونکې کې داسې پلانونه لري چې د دا ډول پيښو له را منځته کيدو څخه به مخنيوی وکړي. هغه زياته کړه چې د ده له معرفي کيدو وروسته تر اوسه داسې پيښه نده رامنځته شوې.

### 6.11.1 زيانمننه

د احتکار څخه د مخنیوي او انحصار د قوانینو نه پلي کول د دې لامل ګرځېدلي چې سوداګر د تصدی له ریاست سره په جوړښت د نفتي توکو په احتکار لاس پورې کړي.

#### 6.11.1.1. سپارښتنه

د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د احتکار د مخنیوي او انحصار د قوانینو د پلي کولو په موخه یو میکانیزم رامنځته کوي چې له مخې به يې د یاد شوو قوانینو څخه سرغړونکو ته مجازات ورکړل شي.

**ضرب الاجل:** ۱۳۹۵ کال د تلې ۳۰

# 7. نتیجه اخستنه او سپارښتنې:

## 7.1. نتیجه اخستنه

ارزونه دا څرګندوي چې د نفتي توکو ا اوبلنو ګازو د واردولو بهیر د فساد پر وړاندې ډېر جدي زیانمن دی او د دې ټولو تر شا د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د مافیا لاس دی. په بهیر کې د مافیا شتون، د بهیر د موجوده قوانینو د پلي کېدو څخه د پاتې کېدو تر څنګ، د قانون خلاف مصوّباتو د صدور لامل ګرځېدلي چې نوموړو مصوّباتو په خپل وار زورواکو ته قانون او ملي ګټو خلاف کړنو موکې برابرې کړيدي.

د تصدی، ګمرکونواو انسا په ګډون په بهیر کې د ښکیلو ادارو غیرفعال چلند، بهیر ته د مافیا د لاس د غزېدو او هیواد ته د بې کیفیته تیلو د واردولو لامل ګرځېدلې. د دې سربیره، د کیفیت د کنترول، د تلو د کنترول او ASYCUDA په ګډون د موجوده سیستمونو ناکاروالی او د بهیر د اړوند اداراتو ترمنځ د همغږۍ نشتوالی، هیواد ته د قاچاق او بې کیفیته تیلو د واردولو د موکو تر څنګ، د سل ګونو ملیونو افغانیو د ضایعه کېدو لامل ګرځېدلې.

ارزونه څرګندوي چې په پروسه کې ښکیلې اداري په ټولو ابعادو کې لکه حقوقي اسناد، تشکیلاتي جوړښت، بشري منابع، تجهیزات او کاري وسایل، اداري سیستمونه او حتی په مسؤلیتونو او صلاحیتونو کې پراخه اصلاحاتو ته اړتیا لري. اوس چې د ملي یو والي حکومت د اصلاحاتو پلي کولو او د هیواد عایداتي منابعو په زیاتولو ژمن دی باید د نفتی موادو د تورید په پروسه کې اصلاحات چټک کړي او دا څرګنده کړي چې د اداري فساد، سترو مافیاو او د نفتي موادو قاچاق کوونکو په وړاندې به په غوڅه اراده مبارزه کوي.

## 7.2. سپارښتنې:

د رپوټ سپارښتنې تر ډېره حده د قوانینو او مقررو په طرح، اصلاح، تعدیل او سم تطبیق، د اداري جوړښتونو اصلاحات او بنسټیز کول، په پروسه کې د ښکیلو ادارو ترمنځ د همغږۍ او رهبرۍ میکانیزه کول، د کارکوونکو د کړنو کنترول او څارنه او د هغوي د ګمارنې بنه، عصري تجهیزاتو او وسایلو سره د ښکیلو ادارو بندري ځانګو تجهیز او فعالونه، او د پروسې د اداري سیستمونو په عصري کولو او تقویه کولو باندې متمرکزې دي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندیني جدول ته مراجعه وکړئ.

#### 7.2.1 د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د بهیر د ځانګړي رپوټ د زیانمننو او سپارښتنو جدول

| اوله درجه لومړيتوب (1) | دوهمه درجه لومړيتوب (2) | دريمه درجه لومړيتوب (3) |
|---|---|---|

| شاخص | په ړوټ کې د سپارښتنې کڼه | سپارښتنه | په ړوټ کې د زيانمننې کڼه | لومړني مالومات/ زيانمنني | ضرب الاجل |
|---|---|---|---|---|---|
| د نفتي توکو او اوبلن ګازو د چاڼ ځايونو د جوړولو د مقررې طرحه چمتو کول | 4.1.1.1 | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د نفتي توکو او اوبلن ګازو د چاڼ ځايونو د جوړولو او موجوده چاڼ ځايونو د فعالولو لپاره يوه هر اړخيزه مقرره چمتو او د تصويب په موخه يې مربوطه ارګانونو ته ليږي. | 4.1.1 | د نفتي توکو د او اوبلنو ګازو د چاڼ ځايونو د جوړولو په اړه د يوې هر اړخيزې مقررې نشتوالي، نه يوازې د قانون خلاف مصوبو د تصويب موکه برابره کړيده بلکه د د دې لامل ګرځېدلې چې شته ۸ چاڼ ځايونه په ټپه ودريږي. | ۱۳۹۵ د لړم ۳۰ |
| د تصديو د قانون لغوه کول او د تصديو د برخليک ټاکل | 4.2.1.1 | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د عدليې او ماليې وزارتونو سره په همغږۍ د نوموړي قانون د له منځه وړلو طرحه چمتو او کابينې ته يې وړاندې کوي. | 4.2.1 | د دولت د تصديو قانون د پلان شوي اقتصاد پر بنسټ چمتو شوی او د بازار د اقتصاد سره اړخ نه لګوي، لدې امله نوموړی قانون له پلې کېدو پاتې او د تصديو د په ټپه دريدو لامل ګرځېدلی. | ۱۳۹۵ د تلې ۳۰ |
| د تصدۍ د اساسنامې بياکتنه او اصلاح | 4.3.1.1 | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د عدليې او ماليې وزارتونو سره په همغږۍ په هيواد کې د نافذه قوانينو په رڼا کې د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ اساسنامه بيا ګوري او اړين اصلاحات پکښې راولي. | 4.3.1 | د نفتي توکو او اوبلن ګاز د تصدۍ د رياست اساسنامه د پلان شوي اقتصاد په اصولو ولاړه او د اساسي قانون د لسمې مادې سره په ټکر کې ده، او ياده اساسنامه د خصوصي سکتور د زيان منيدو او د ګټو د تضاد د رامنځته کيدو لامل ګرځېدلې ده. | ۱۳۹۵ د لړم ۳۰ |
| د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو په بهير کې د مافيا د لاسوهنې څخه مخنيوی کول | 4.4.1.1 | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د سوداګرۍ او صنايعو خونې سره په همغږۍ، د خصوصي پانګې اچونې د قانون څخه د سرغړونکو لپاره د جزا په پام کې نيولو او په بهير کې د مافيايي کړيو د مداخلې د مخنيوي په موخه يوه پاليسي طرحه او تصويبوي. | 4.4.1 | ضعيفه حکومتولي او په بهير کې د مافيايي کړيو را منځته کيدل، د دې لامل ګرځېدلي چې د خصوصي پانګې اچونې قانون په سمه توګه پلې نشي. | ۱۳۹۵ د لړم ۳۰ |
| د ګمرکونو د قانون د ۱۶ مادې له منځه وړل | 4.5.1.1 | د ماليې وزارت د عدليې وزارت سره په همغږۍ د ګمرکونو د قانون ۱۶ ماده له منځه وړي. | 4.5.1 | د کميشنکارۍ د قانونمنيدو په تړاو د ګمرکونو د قانون د ۱۶ مادې لومړۍ فقرې، په ګمرکونو کې د پراخه فساد لپاره موکه برابره کړيده. | ۱۳۹۵ د مرغومې ۱۰ |
| د ستندرد د قانون د ۲۰ او ۲۱ موادو د پلې کولو په موخه د يوه ميکانيزم رامنځته کول | 4.6.2.1 | د نورم او ستندرد ملي اداره د بې کيفيته توکو د واردولو د مخنيوي په موخه يو ميکانيزم چمتو کوي چې پر بنسټ به يې د نورم او ستندرد د قانون د ۲۰ او ۲۱ مادو د پلې کيدو څخه ډاډ تر لاسه شي. | 4.6.2 | د وزيرانو د شورا غير تخصصي پريکړې او په پريکړو کې د نورم او ستندرد د ملي اداري رول په پام کې نه نيول، د قوانينو په ځانګړي ډول د ستندرد د قانون خلاف پريکړو د کيدو لامل ګرځېدلي او د قانون د پلې کيدو پر وړاندې يې ننګونې زيږولي دي. | ۱۳۹۵ د تلې ۳۰ |
| د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د پاليسۍ د يوشان پلې کولو په موخه د يوې هر اړخيزې طرحې چمتو کول | 4.7.1.1 | د سوداګرۍ او صنايعو وزارت د پاليسۍ د يو شان پلې کيدو او ګډ سهامي شرکت ته د تصدۍ د حقوقي شخصيت د بدلون په اړه، يوه هر اړخيزه طرحه چمتو او د منظورۍ په | 4.7.1 | د پاليسۍ د موادو د يو شان نه پلې کيدو له کبله، د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدۍ رياست په زوره د هغو سوداګرو څخه چې د دوی خدمتونه نه تر لاسه کوي، پيسې تر لاسه کوي. له بلې خوا د دې | ۱۳۹۵ د تلې ۳۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | موخه یي کابینې ته وړاندې کړي. | | پالیسي د تصویب څخه ۹ کاله تیر شوي خو د پالیسی د لومړی برخې ۹ بند چې د سوداګری او صنایعو وزارت یې پدې مکلف کړی چې ګډ سهامي شرکت ته د نوموړی تصدی د حقوقي شخصیت د بدلولو په تړاو خپله طرحه وړاندې کړي، تر اوسه نده پلې شوي. | |
| د وزیرانو د شورا د مصوبو د مسودو ژوره کتنه او د اړوند تخنیکي اداراتو سره پکښې سلا کول | 4.8.1.1 | د جمهوري ریاست د چارو اداري عمومي ریاست د اړوند ادارو په همکاری باید ټولې هغه پریکړې، مصوبات چې د تصویب لپاره کابینې او وزیرانو شورا ته وړاندې کیږي، د هیواد د نافذه قوانینو په رڼا کې مطالعه او د تشو او نیمګړتیاو د رفع کولو وروسته، کابینې او وزیرانو شورا ته وړاندې کړي. | 4.8.1 | د نفتي توکو د بهیر په تړاو د وزیرانو د شورا غیرمسلکي پریکړې چې په هیواد کې د نافذه قوانینو سره په ټکر او د نوموړي بهیر د مسلکي اداري د سلا پرته تصویب شوي، د دې لامل ګرځیدلي چې د بهیر نافذه قوانین له پلې کیدو پاتې او بهیر له خنډ سره مخ شي. | دوامدار ه |
| په بهیر کې د ښکیلو ادارو تر منځ د همغږی د یوه روښانه میکانیزم رامنځته کول | 5.1.1.1 | د سوداګری او صنایعو وزارت د بهیر د مشرتابه دنده په غاړه اخلې او په بهیر کې د روڼتیا او همغږی د رامنځته کولو په موخه، یو روښانه میکانیزم رامنځته کوي. | 5.1.1 | د نفتي توکو د واردولو په بهیر کې د مشرتابه نشتوالي او په بهیر کې د مختلفو ادارو ښکیلتیا، د بهیر مدیریت او د اړوند اداراتو تر منځ همغږي زیانمنه کړي او په بهیر کې د روڼتیا او حساب ورکونې د کمښت لامل ګرځیدلي. | ۱۳۹۵ د تلې ۱۵ |
| د بهیر د جواز د صادرولو په موخه د یوې اړوند ځانګړي رامنځته کول | 5.2.1.1 | د سوداګری او صنایعو وزارت، د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردولو د پروسې د جواز په صادرولو کې د ټولو ادارو رول ارزوي او یوه طرحه چمتو کوي چې له مخې به یې جواز د یوې اداري لخوا صادریږي. | 5.2.1 | په بهیر کې د جواز صادرونکو ادارو ډیروالي او پیچلي بیروکراسی، سوداګر او پانګوال ګیچ کړي او د فساد لپاره یې موکه برابره کړیده. | ۱۳۹۵ د تلې ۱۵ |
| د کار د حجم سره د برابری په موخه د تصدی د تشکیلاتي جوړښت بیا کتنه | 5.3.1.1 | د سوداګری او صنایعو وزارت د نوموړي تصدی د ریاست سره په سلا د ریاست ټول تشکیلاتي جوړښت ارزوي او اضافه بستونه د تشکیل څخه وباسي. | 5.3.1 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی په ریاست کې، د تشکیلاتو پرسوب د دې لامل ګرځیدلي چې د دې اداري څه ناڅه ۶۰٪ کارکونکي په بیکاری اخته او د فساد د موکو په لټه کې واوسي. | ۱۳۹۵ د لیندۍ ۳۰ |
| د ګمرکونو د تشکیلاتي جوړښت بیا کتنه | 5.3.2.1 | د مالیې وزارت د ګمرکونو له چارواکو سره په سلا، د ګمرکونو تشکیلاتي جوړښت ارزوي او تشکیلات د کار له کچې سره عیاروي. | 5.3.2 | په یو شمیر ګمرکونو کې د کارکونکو کموالی، د تشریح څخه د توکو د پاتې کیدو، اداري فساد او مالیاتو د ورکړی څخه د تیښتې لامل ګرځیدلي دي. | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |
| د ګمرکونو، انسا او تصدی د کارکونکو ارزونه او روزنیزو پروګرامونو ته ورپیژندل | 5.5.1.1 | د اداري اصلاحاتو خپلواک کمیسیون د مالیې او سوداګری وزارتونو سره په همغږی، د عایداتي ادارو ټول کارکونکي ارزوي او هغه کارکونکي چې روزنیزو خیرونو ته اړتیا لري، اړوند روزنیزو خیرونو ته ور معرفي کوی. | 5.5.1 | د عایداتي ادارو د ګمارنې په پروسه کې د زورواکو مداخله او په پروسه کې د روڼتیا نشتوالی، په نوموړو اداراتو کې د نالایقه کسانو د ګمارل کیدو او د وړتیا د ودې د بهیر د په ټپه ودریدو لامل ګرځیدلي دي. | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |
| په اړینو سامان الاتو د انسا د اداري د سمبالولو او وړتیا د ودې په | 5.6.1.1 | د نورم او ستندرد ملي اداره د وړتیا د ودې او اړینو وسایلو د رانیونې په موخه یوه هر اړخیزه طرحه چمتو او د | 5.6.1 | د بودجې د نشتوالي له امله د نورم او ستندرد ملی اداره په اړینو وسایلو نده سمبال شوي، اود وسایلو نشتوالی د دې | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| موخه د یوي هر اړخیزي طرحي چمتو کول | | مالیي وزارت او نړیوالو بسپنه ورکونکو قناعت تر لاسه کوي. | | لامل ګرځیدلی چي د نورم او ستندرد ملي قانون پلی نشي. | |
| د دولتي ارګانونو د لوازمو د ساتني په موخه د یوي مقرري د طرحي چمتو کول او تصویب | 5.6.2.1 | د اداراتو د سامان او لوازمو د ساتني په موخه د مالیي وزارت یوه مقرره طرحه او تصویبوي چي پر بنسټ به يي کارکونکي د اړوند وسایلو د ساتني دنده په غاړه لري او له کاره د لویدو په صورت کي به يي تاوان ورکوي. | 5.6.2 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د بهیر پوري تړلو اداراتو د اداري سامان آلاتو د ساتني په هکله د یوي معیاري پالیسی نشتوالي د دي لامل ګرځیدلي چي سامان او لوازم د وخت څخه وړاندي او ځیني وخت په لوی لاس له کاره ولویږي او هیڅوک پدې اړه مسؤل ونه ګڼل شي. | ۱۳۹۵ د مرغومي ۱۰ |
| د اداري اجرااتو د قانون په مسوده کي د مسولیت او صلاحیت تر منځ د انډول په پام کي نیول | 5.7.1.1 | د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو خپلواک کمیسیون د عدلیي وزارت، د جمهوري ریاست د چارو اداري د ریاست او د سیمه ایزو ارګانونو د خپلواکي اداري سره په همغږی، د اداري اجرااتو د قانون په مسوده کي د دولتي کارکونکو د صلاحیت او مسولیت تر منځ انډول په پام کي نیسي. | 5.7.1 | په سیمه ایزو ادارو کي د صلاحیت او مسولیت تر منځ د انډول نشتوالی او په مرکز کي د صلاحیت انحصار، په سیمه ایزه کچه د کارونو د ځنډیدو او مراجعینو د نارضایتی لامل ګرځیدلي. | ۱۳۹۶ د غویي ۲۹ |
| د مستهلکینو د حقوقو د تامین په موخه د سالم رقابت د زمیني برابرول | 6.2.1.1 | د سوداګری او صنایعو وزارت د نفتي توکو د واردولو د بهیر د مافیایي کیدو او ګران پلورلو د مخنیوي او د مستهلکینو څخه د ملاتړ او رقابت د قوانینو د پلي کیدو په موخه، د سوداګرو تر منځ د سالم رقابت موکه برابروي | 6.2.1 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د قرارداد په بهیر کي د سوداګری او صنایعو وزارت لاس تر زني کښیناستل او د سوداګرو سره د همکاری نه کول د دي لامل ګرځیدلي چي د هیواد یو شمیر مافیایي کړی د ګاونډیو هیوادونو د چارواکو سره لاس یو او نفتي توکي په افغاني سوداګرو په لوړه بیه خرڅ کړي. . | ۱۳۹۵ د لیندی ۳۰ |
| د افغانستان په نړیوالو ترانسپورتي شرکتونو باندي د TIR د معیارونو تطبیقول | 6.3.1.1 | د ترانسپورت او ملکي هوايي چلند وزارت، وړاندي تر دي چي د بار د لیږد نړیوالو شرکتونو ته د فعالیت جواز ورکړي، د TIR د معیارونو د پلي کیدو څخه دي ځان ډاډه کړي. | 6.3.1 | نړیوالو معیارونو سره د افغانستان د بار دلیږد د وسایلو نه برابرښت، د دي لامل ګرځیدلي چي سوداګر ونشي کولای نفتي توکي په افغاني موټرو کي هیواد ته وارد کړي. | ۱۳۹۶ د کب ۲۹ |
| د تصدی په ریاست کي د ناوړه ګټي اخیستني د مواردو د څیړلو په موخه د یوه ګډ پلاوي ګمارل | 6.4.1.1 | د جمهوري ریاست د چارو اداره، د یوه حکومتي پلاوي سره په همغږی د تصدی د عوایدو راټولولو د بهیر څرنګوالی او د تصدی د پخوانیو چارواکو پواسطه د عوایدو څخه ناوړه ګټه اخیستنه تر هر اړخیزي ارزوني لاندي نیسي، او ښکمن کسان د عدلي تعقیب په موخه عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني. | 6.4.1 | په حکومت کي د نفتي توکو د مافیا رول او په ټولو باندي د قانون یو شان نه پلي کول د دي لامل ګرځیدلي چي هغو کسانو چي په ملیونونو ډالر یي لوټلي، د عدلي او قضایي تعقیب لاندي رانشي. | ۱۳۹۵ د لړم ۳۰ |
| د تصدی د ریاست د مالي او حسابي سیستمونو برقي کول | 6.4.2.1 | د سوداګری او صنایعو وزارت د تصدی ریاست په هر اړخیزه توګه ارزوي، مالي سیستمونه د عوایدو او مصارفو په ګډون په الکترونیکي وسایلو سمبالوي او په ټولیز ډول داسي میکانیزمونه رامنځته کوي چي د تصدی په مالي سیستمونو کي د روڼتیا | 6.4.2 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی په ریاست کي د فعالو اداري سیستمونو نشتوالی، په نوموړی تصدی کي د فساد لپاره موکه برابره کړیده. | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | او حساب ورکوني د رامنځته کيدو لامل وګرځي. | | | |
| د تصدی د سامان الاتو بيا رغونه او نوي کول | 6.4.3.1 | د پاتي کيدو په صورت کي د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی رياست خپل کاري وسايل نوي او د خدمتونو د وړاندي کولو په برخه کي د سوداګرو باور تر لاسه کوي. | 6.4.3 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د رياست د لوازمو له کاره لويدل د دي لامل ګرځيدلي چي سوداګر د حق الخدمت د ورکولو سربيره، اړين خدمتونه تر لاسه نکړي. | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |
| د نفتي توکو د پاليسی سره سم د تصدی د خدمتونو اختياري کول | 6.4.4.1 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی رياست د نفتو او ګازو د پاليسی سره سم د هغو سوداګرو څخه حق الخدمت تر لاسه کوي چي د خدمتونو څخه يي ګټه اخلي. | 6.4.4 | اوسمهال د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی رياست د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د پاليسی د ۳ او ۴ موادو پر خلاف د ټولو سوداګرو څخه يو شان حق الخدمت راټولوي. | ۱۳۹۵ د تلي ۳۰ |
| د کيفيت د ازمايښت په بهير کي د جعلي پايلو پيژندل او مرتکبين يي د عدلي تعقيب په موخه عدلي او قضايي ارګانونو ته ورپيژندل | 6.5.1.1 | د انسا اداره په جعل او تزوير کي ښکيل کسان پيژني او د عدلي تعقيب په موخه يي قضايي ارګانونو ته معرفي کوي. | 6.5.1 | د لابراتوار په پايلو کي په درغلي کوونکو او سوداګرو سره په جوړجاړي د غلطو نمونو اخيستونکو، بانديد د قانون يو شان نه پلي کول په نومړي اداره کي د فساد موکي او هيواد ته د بي کيفيته تيلو واردول زيات کړيدي. | دوامداره |
| د جيوکيم د اجراآتو څخه د نمونه ارزونو ترسره کول | 6.5.2.1 | د انسا اداره د جيوکيم د اجراآتو څخه د څارني په موخه يو ميکانيزم طرحه کوي او د جيوکيم پواسطه ځو ازمايل شوي نموني د لابراتوارونو د دقت د کچي د مالومولو په موخه د هيواده د باندي استوي. | 6.5.2 | د جيوکيم د کمپنی پر اجراآتو د انسا د اداري د څارنيزو ميکانيزمونو د کمزوری له امله، په نومړي کمپنی د سوداګرو او ځايي چاروا کو باور کم شويدی او د بهير روڼتيا يي تر پوښتني لاندي راوستي ده. | ۱۳۹۵ د ليندی ۳۰ |
| د تيلو پمپونو ته د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د واردونکو شرکتونو تر سيوري لاندي د جواز صادرول | 6.5.3.1 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی رياست د تيلو او ګازو پلورونکو ته د واردونکو شرکتونو د سيوري لاندي جواز ورکوي چي دا کار به د کيفيت کنترول د انسا اداري ته اسانه کړي. | 6.5.3 | په هيواد کي د ۳۰۰۰ زياتو تيلو پمپونو شتون د دي لامل ګرځيدلي چي د انسا اداره ونشي کولای د تيلو او ګازو د کيفيت څخه ځان داړه کړي. | ۱۳۹۶ د کب ۲۹ |
| د ګرځنده لابراتوارونو فعالول او د سرغړونکو د عدلي تعقيب لاندي نيول | 6.5.4.1 | د نورم او ستندرد ملي اداره ګرځنده لابراتوار فعالوي او د ملي امنيت او حقوقي ادارو پر مټ، سرغړونکي تر عدلي تعقيب لاندي نيسي | 6.5.4 | د تيلو پمپ ستيشنونه او پرچون پلورونکي د سوپر تيلو تر نامه لاندي بي کيفيته تيل پلوري. | ۱۳۹۵ کال د لړم ۳۰ |
| د نفتي توکو د قيمت د ټاکني په بهير کي invoice ته اعتبار ورکول | 6.6.1.1 | د ماليي وزارت خپل د بيې اېښودني طرزالعمل د بيې ايښودني د لومړي ميتود ( د توکو د پيرلو سند ته اعتبار ورکول) پر بنسټ عياروي او د تصدی د رياست او صادرونکي هيواد | 6.6.1 | د تعرفو د قيمت لوړول په بازار کي د قاچاقي او بي کيفيته تيلو د زياتيدو او په ګمرک کي د اداري فساد د رامنځته کيدو لامل ګرځيدلي. | ۱۳۹۵ د تلي ۳۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | | په همکاری د د پیرلو د سند د کره والي څخه ځان ډاډه کوي. | | | |
| په ګمرکونو کي د نفتي توکو د محصول څخه د ناوړه ګټي اخیستني د مواردو د څېرني په موخه د یوه پلاوي ټاکل | 6.6.2.1.1 | د ولس مشرۍ ماني د چارو اداره د ګمرکونو د محصول غونډولو بهیراو د ناوړه ګټي اخیستني موارد ارزوي، تورن کسان پیداکوي او دعدلیي تعقیب په موخه یي عدلیي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني. | 6.6.2.1 | په ګمرکونو کي د کنترول او حساب ورکوني د میکانیزمونو د نشتوالي له کبله نفتي توکي هیواد ته د قاچاق په بڼه واردیږي. | ۱۳۹۵ د وږي ۳۰ |
| د ګمرکي معافیت د بهیر د بدلون په موخه د نړیوالو ځواکونو سره د هوکړه لیک لاسلیک | 6.6.3.1.1 | د بهرنیو چارو وزارت، مالیي وزارت،نړیوال ځواکونه، کورنیو چارو وزارت او د دفاع وزارت یو هوکړه لیک لاسلیکوي چي له مخي به یي د مالیي وزارت د محصول څخه د تولو معافو توکو څخه مالیه اخلي او وروسته به یي د اړوند ارګان بانکي حساب ته انتقالوي. او همدارنګه پدي هم باید موافقه وشي چي هیواد ته ټول واردیدونکي توکي تر ارزوني لاندي نیول کیږي تر څو د منعه شوو توکو د واردولو څخه مخنیوی وشي. | 6.6.3.1 | د محصول څخه د ملي او نړیوالو ځواکونو د نفتي توکو او اوبلنو ګازو معافي د ناوړي ګټي اخیستني او د محصول څخه د تیښتي موکه برابره کړیده. | ۱۳۹۵ د تلي ۳۰ |
| د مافیایي کړیو تشخیص او د عدلي تعقیب لاندي نیول | 6.6.4.1.1 | لویه څارنوالی د اداري فساد پر وړاندي د مبارزي د عدلي مرکز له لاري نوموړي کړی تشخیص او د عدلي تعقیب لاندي نیسي. | 6.6.4.1 | په بهیر کي د مافیایي کړیو شتون د دي لامل ګرځیدلي چي په زرهاو ټنه بي کیفیته نفتي توکي هیواد ته وارد او د ګمرکونو عوایدو ته زیان ورسوي | **۱۳۹۵ کال د لیندۍ ۳۰** |
| د فواید عامي وزارت په تلو د زوروواکو د تسلط مخنیوی | 6.7.1.1 | د فواید عامي وزارت د کورنیو چارو وزارت سره په همغږی د فواید عامي وزارت په تلو د زوروواکو د تسلط مخنیوی کوي. | 6.7.1 | د زوروواکو او چارواکو په لاس کي د فواید عامي وزارت د تلو لویدل د دي لامل ګرځیدلي چي د فواید عامه وزارت په خپلو تلو کنترول ونلري او د عوایدو یوه زیاته برخه له لاسه ورکړي. | ۱۳۹۵ د تلي ۳۰ |
| په ترازوګانو کي د درغلی د مخنیوي په موخه د ترازوګانو د مامورینو کنترولول | 6.7.2.1 | د فواید عامي وزارت د ملي امنیت په همکاری هغه مامورین چي وزن کم ښیي پیداکوي او د عدلي تعقیب په موخه یي عدلي او قضایي ارګانونو ته ورپیژني. | 6.7.2 | د تلو د مامورینو او سوداګرو جوړجاړی او د فساد د موکو شتون د دي لامل ګرځیدلی چي مامورین وزن کم وښیي او د دولت د عوایدو د ضایعه کیدو لامل وګرځي. | ۱۳۹۵ د لیندي ۳۰ |
| د calibration د تکنالوژی پر مټ د تلو عیارول | 6.7.3.1 | د نورم او ستندرد ملي اداره د تلو د درجه بندی سیستم وسایل او تکنالوژي هیواد ته واردوي او د تلو د تنظیم څخه ځان ډاډه کوي. | 6.7.3 | د معیارونو سره د تلو د نه برابري او د وزن د درجه بندی د یو معیاري سیستم نشتوالی د دي لامل ګرځیدلي چي تلي د توکو حقیقي وزن ونه ښایي. | ۱۳۹۵ د کب ۲۹ |
| د لویو لارو کي د پیسو د اخیستلو د مخنیوي په موخه د پولیسو د پوستو کنترولول | 6.8.1.1 | د کورنیو چارو وزارت د هغو پولیسو د پیژندني او عدلي ارګانونو ته د ورپیژندني په موخه چي له موټروانانو پیسي اخلي، استخباراتي ګروپونه رامنځته کوي او په منظمه توګه د لویو لارو په پوستو ګزمه کوي. | 6.8.1 | د لویو لارو په پولیسو د کنترول نشتوالی د دي لامل ګرځیدلی چي هغوی د د موټروانانو څخه پیسي واخلي. | ۱۳۹۵ د تلي ۳۰ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| د نفتي توکو د تولو واردونکو شرکتونو بياځلي ثبتول | 6.10.1.1 | په بازار کې د قاچاقي او نور غير قانوني نفتي توکو د عرضه کولو د مخنيوي په موخه د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی رياست يو ميکانيزم رامنځته کوي چې له مخې به يې په بازارونو کې د تيلو او ګازو تولي ويشونکي سرچيني ثبت او وپيژندل شي. | 6.10.1 | په بازار کې د نفتي توکو د خرڅولو په سرچينو د کنترول د يوه منظم سيستم نشتوالی د دې لامل ګرځيدلي چې قاچاقي او نور غير قانوني تيل د تيلو د پمپونو له بازار ته عرضه شي. | ۱۳۹۵ د تلې ۳۰ |
| د احتکار او انحصار څخه د مخنيوي د قوانينو د پلي کولو په موخه د يوه ميکانيزم طرحه کول | 6.11.1.1 | د سوداګری او صنايعو وزارت د احتکار او انحصار د مخنيوي قوانينو د پلي کولو په موخه يو ميکانيزم رامنځته کوي چې له مخې به يې د ياد شوو قوانينو څخه سرغړونکو ته مجازات ورکړل شي. | 6.11.1 | د احتکار او انحصار څخه د مخنيوي قوانينو نه پلي کول د دې لامل ګرځيدلي چې سوداګر د تصدی له رياست سره په جوړښت د نفتي توکو په احتکار لاس پورې کړي | ۱۳۹۵ د تلې ۳۰ |

## 8. سرچینې


1. د افغانستان اساسي قانون 1382
2. افغانستان کې د خصوصي پانګونې قانون 1384
3. پرعایداتو باندې د مالیاتو قانون 1387
4. د ګمرکاتو قانون 1384
5. د افغانستان ملي سټنډرډ قانون 1392
6. د نفت او ګاز قانون 1387
7. د 1386 کال 3 ګڼه د نفتي موادو او مایع ګاز پالیسي
8. د 1391 د وزیرانو شورا ۵۰ ګڼه مصوبه
9. د 1392 د وزیرانو شورا 45 ګڼه مصوبه
10. د 1394 د وزیرانو شورا 4 ګڼه مصوبه
11. د 1383 کال دولت د تصدیو قانون
12. د 1378 کال د تصدئ اساسنامه
13. د 1421 هجري قمري کال د ښاري خدمتونو د محصول قانون (د تهجایی محصول)
14. د 1393 کال د لوړ توناژ باربری نقلیه وسایطو د کنترول مقرره
15. د افغانستان د سوداګرئ او صنایعو وزیر سره مصاحبه
16. د سوداګرئ او صنایعو وزارت د خصوصي سکټور پراختیا له معین سره مصاحبه
17. د افغانستان د تجارت او صنایعو خونو سره مصاحبه
18. د ستندرد ملي خپلواکه اداري سره مصاحبه
19. د حیرتان، آقینه، تورغندی او اسلام قلعه بندري ښارګوټي د ستندرد خپلواکه اداري له آمرینو سره مصاحبه
20. د حیرتان، آقینه، تورغندی او اسلام قلعه بندري ښارګوټي د جیوکم کمپنۍ آمرینو سره مصاحبه
21. د مالیي وزارت د ګمرکاتو معین سره مصاحبه
22. د بلخ، هرات، و کابل ولایتونو د نفتي موادو او مایع ګاز تصدئ له رئیسانو سره مصاحبه
23. د حیرتان، آقینه، تورغندی او اسلام قلعه بندري ښارګوټي د نفتي موادو او مایع ګاز مدیرانو سره مصاحبه
24. د غضنفر سوداګریز شرکت له رئیس سره مصاحبه
25. د برادران اتحاد سوداګریز شرکت له رئیس سره مصاحبه
26. د هرات ولایت د نفتي موادو او مایع ګاز اتحادیې سره مصاحبه
27. د هرات ولایت مایع ګاز اتحادیې سره مصاحبه
28. د مدني ټولنې نهادونو شبکې سره مصاحبه
29. د نفتي موادو او مایع ګاز د تورید سوداګرو سره مصاحبه

# 9. ضمیمي:

## 9.1. لومړی مل: د نفتي توکو او اوبلن ګازو د واردولو د بهیر پراوونه

| ګڼه | پراونه | مسؤله اداره/شخص |
|---|---|---|
| 1 | د لاندي جوازونو تر لاسه کول :<br>1-پانګي اچوني<br>2- سوداګریز شرکت<br>3- د نفتي توکو د تورید جواز | د پانګي اچوني څخه د ملاتړ اداره (AISA)<br>د فکري مالکیت او مرکزي ثبت ریاست – سوداګرۍ وزارت<br>د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تنظیم امریت- سوداګرۍ وزارت |
| 2 | په بولی کي ګډون او د قرارداد لاسلیک | سوداګر<br>د ګاونډیو هیوادونو د نفتي توکو او اوبلن ګازو اړوند اداري |
| 3 | د CMR او Consignment چمتو کول | د تیلو خرڅونکي شرکت یې چمتو او ترانسپورتي شرکت ته سپاري |
| 4 | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو لیږد | ترانسپورتي شرکت |
| 5 | د اسنادو مهر او لاسلیک ( CMR Consignment) | د سرحدي ګمرک مدیریت |
| 6 | په صفري نقطه کي د ټانکرونو او واګونونو درول | ترانسپورتي شرکت |
| 7 | تصدی ته د اسنادو لیږل | سرحدي ګمرک |
| 8 | د حق الخدمت په نوم د 1.78 سلنه محصول اخستل او د اسنادو لیږل د انسا اداري ته | د نفتي توکو او اوبلنو ګازو د تصدی مدیریت |
| 9 | د اسنادو کنترول او جیوکیم کمپنی ته لیږل | نورم او ستندرد اداره |
| 10 | د ټانکرونو او واګونونو د نموني راټولول | د جیوکیم کمپنی<br>څلور کسیز پلاوی (انسا، جیوکیم، تصدی ، سوداګر استازی) |
| 11 | د لابراتوار د پایلو لیږل انسا اداري ته | د جیوکیم کمپنی |
| 12 | د پایلو تصدیق او تصدی ته لیږل | انسا |
| 13 | سرحدي ګمرک ته د پایلو لیږل | د تصدی مدیریت |
| 14 | د اسنادو او ټانکرونو لیږل محصولي ګمرک ته | سرحدي ګمرک |
| 15 | د ګمرک د پراونو بشپړول | محصولي ګمرک |
| 16 | د ټانکرونو تلل | د ګمرک، فواید عامي او تصدی تلي |
| 17 | په زیرمتونونو کي د توکو تخلیه کول | سوداګر |
| 18 | د هیواد ښارونو ته د ویشلو په موخه د تیلو لیږد | سوداګر |
| 19 | د تهجایي محصول اخستل | ښاروالی |
| 20 | د تیلو او ګازو په پمپونو کي خالي کول | سوداګر |

## 9.2. دوهم مل: هيواد ته د محصول څخه معاف تيلو د واردونکو شرکتونو نومونه

| ګڼه | د واردونکی کمپنی نوم | د هغي مرجع نوم چي تيل ورته تسليميږي | کتني |
|---|---|---|---|
| ۱ | Red Star Enterprise Limited | United States Army (USA) | |
| ۲ | N.C.S | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۳ | Ghazanfer Oil and Gas Company | Ministry of Finance (MOF) | |
| ۴ | Ghazanfer Oil and Gas Company | Ministry of Defense ( MOD) | |
| ۵ | Northern Afghanistan Company | Ministry of Defense ( MOD) | |
| ۶ | Ariaya Target Logistic | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۷ | CE.FE. Limited | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۸ | Maihan Sellab Limited | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۹ | Fadeless Limited | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۱۰ | Ferdowsy Balkh Limited | Ministry of Finance (MOF) | |
| ۱۱ | Original Supplies Limited | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۱۲ | Ariaya Target Petroleum Saify Group | Ministry of Interior (MOI) | |
| ۱۳ | National Fuel Corporation | United States Army (USA) & Ministry of Finance (MOF) | |
| ۱۴ | Original Supplies and Parwan Group | Ministry of Interior (MOI) | |
| ۱۵ | Ariaya Target Petroleum | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۱۶ | North Comp Supply | United States Army (USA) | |
| ۱۷ | Afghan Fortune | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۱۸ | Northern Afghanistan Company | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۱۹ | Lego Afghan | Resolute Support Mission (RSM) | |
| ۲۰ | Parwan Group | Resolute Support Mission (RSM) | |